# کاروان

د پښتو ټولنې میاشتنۍ خپرونه

۱۱

پر له پسې ګڼه ۴۹۶

## دغیرت منو پښتنو ژبه ده

ژبه دخوندا او دلذت نه ډکه ژبه پښتو او دغیرته ډکه
ژبه خوږه د محبت نه ډکه
دا بله نه ده د پښتو ژبه ده
د غیرت منو پښتنو ژبه ده

د خوشحال خان او دایمل ژبه ده دادرحمن دهر غزل ژبه ده
دغه د توری د عمل ژبه ده
دا ښکته نه ځی په ختو ژبه ده
د غیرت منو پښتو ژبه ده

ژبه په ژبو کښې او چته ژبه خوږه له قند او له شربته ژبه
نه ده هر ګز بې حلاوته ژبه
ژبه ده ډکه له معنو ژبه ده
د غیرت منو پښتنو ژبه ده

ژبه ده ډیره قدر دانه ژبه دا په میرویس باندې ده ګرانه ژبه
دا په ادب کښې ده روانه ژبه
په شاعرۍ کښې د نکتو ژبه ده
د غیرت منو پښتنو ژبه ده

دې کښې ادب شته دی حکمت شته دی دې کښې د مینې کرامت شته دی
دې کښې د هر اظهار طاقت شته دی
داد ملکو نو اخیستو ژبه ده
د غیرت منو پښتنو ژبه ده

پښتون په دې ژبې قربان به شی د خپلې ژبې نګهبان به شی
بس د پښتو په لار روان به شی
زمونږ د پلار او د نیکو ژبه ده
د غیرت منو پښتنو ژبه ده

د شاعرانو د تکل ژبه ده دادیبانو د مشغل ژبه ده
دا د پښتو د هر بلبل ژبه ده
د مقید د ولولو ژبه ده
د غیرت منو پښتنو ژبه ده

# کابل
ادبي، تاریخي او اجتماعي

سلواغه (۱۳۳۹ ش) کال د (۱۳۸۰ ق) کال د (۱۹۶۱ ع) کال جنوري او فروري


## ادبي، تاریخي او اجتماعي


امتیاز : د پښتو ټولنې

د پښتو ټولنې مشر : گل پاچا الفت

مسئول مدیر : محمد حسن کاکړ

د تیلفون لمبر : ۲۱۲۹۱

پته : شیر علی خان واټ
نوی ښار، کابل
افغانستان

# په دې ګڼه کښې


| شمېر | لیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | انسان او طبیعت | حفیظ الله امین | ۱ |
| ۲ | دامریکې دمتحده.... | عبدالقیوم کوچی | ۱۵ |
| ۳ | په لغمان کښې تېرشوی پوهان | عبدالمنان ملګری | ۲۲ |
| ٤ | معیاری پښتو | محمدصدیق روهی | ۲٦ |
| ٥ | دګورکی لیک | مترجم کاکړ | ۲۹ |
| ٦ | اشعار | دمعاصرشاعرانو | ۳۱ |
| ۷ | زړه ته | سعید افغان | ۳٥ |
| ۸ | دنړۍ ادبیات | مترجم میرا کبر | ۳۷ |
| ۹ | کوچنی تېلګراف | مترجم اتیک خیل وردګ | ٤۱ |
| ۱۰ | دانارلو | سید احسان الله هېر | ٥۱ |
| ۱۱ | دعربی حکومتو تشکیل | عبدالقیوم بارکزی | ٥۸ |


## کالنی اشتراک


په کابل کښې ۳۲ افغانۍ

دهېواد په نورو برخو کښې ۳٦ افغانۍ

دمعارف زده کوونکوته نیمه به

دشپږو میاشتو اشتراک هم منل کېږی

حفیظ الله امین

# انسان او طبیعت

## د فلسفی نظریو تاریخی سیر

دانسان طبیعت او دانسان او طبیعت ترمینځ رابطې تل دفیلسوفانو دتوجه وړ گرځیدلی اودتاریخ پههرهدوره کښې دمختلفو عواملو تر تأثیر لاندې په مختلفو ډولو اظهارشوی دی. په دې مقاله کښې په مختصر ډول هغه فلسفی نظریې راټولی شوی دی چه په تاریخی دورو کښې یې بارز وضعیت درلود اوډیر مفکران یې ترنفوذ لاندې راغلی وو.

کله چه ابتدائی انسان دځان او طبیعت په مینځ کښې نژدې روابط احساس کړل نو په ډیروطبیعی او بسیطو کارواو شیانو یې لاس پورې کړ، اوتر ډیره حده په طبیعی دنیا پورې مربوط و. چه درووروبې طبیعت ته پناه یووړه اوله بیرې یې طبیعی اوحیوانی نړۍ ته عبادت کاوه ددوی اعمال ډیر طبیعی وو. اوددوی عقیدې به یې ښې تمثیلولې او په اعمالو کښې یې هیڅ تصنع نه ؤوروورودینی عقایدداسې مرتب شول چه درواياتو، تحرکاتواوممنوعاتو مجموعه یې ایجاد کړه ،دافرادو حرکات یې دوهرې په واسطه تر کنترول لاندې ونیول کله چه انسان زیارو کیښې چه دطبیعت په کنترول کښې موفقانه لاس ولری نو په تصنع اومنطقی طریقو یې پیل وکړ.

تقریباً څلور یا درې زره کاله ق. م دمصر خلکو وغوښتل چه داخلاقو اومعنویاتو یوډیر لوړ حس ته انکشاف ورکړی. اود مختلفو خدایانو په واسطه به یې دښو اوبدومعیارتا که اوپه دې ډول انسانی معنویات دتصنع لوړې مرحلې ته ورسیدل. اودمستدامې مجادلې ابتدائی ضرورت چه انسان دطبیعی قواوو په مقابل کښې درلودوروورود انسانانو په منځ کښې داجتماعی رابطو لوړې او مطلوبې درجې ایجاد کړې. دحضرت موسی (ع) په واسطه په یهودیانو کښې دشخصی مسؤلیت احساس او وجدانی ضروریتونه پیداشول. چه په دې ډول دخدای (ج) په باره کښې تصورات مینځ ته راغلل اوله لسمې ترشپږمې پیړۍ ق.م پورې دخدای په حقله مفهومات په بیړه مخ په ارتقأ شول. اودې عقیدې قوت وموند چه علم، حقیقت او عمل دخدای له خوا انسان ته رسیږی چه په دی ترتیب په بشر کښې د وحدانیت افکار تقویه شول.

د «ق» م په لسمې پېړۍ د طبیعي واقعاتو په باره کښې د نو یو تشریحاتو غوښتنه شروع شوه او د طبیعي حادثاتو له پاره طبیعي علتونه لټول کیدل ویلای شو چه یو فکري انقلاب راغی فیلسوفانو او نوابغو په دیني توضیحاتو قناعت ونکړ، د دولت او افرادو ترمینځ د روابطو منځ په باره کښې نوی نظریات پیدا شول. دا چه دولت به یې خدائي قدرت باله مخ په زوال شو. او نوي فلسفي افکار مینځ ته راووتل سوفسطائیان په یونان کښې میشته شول او په اتن کښې یې انفرادي خویو ته سرعت ورکړ او د خلکو د بیان د قدرت او د نطاقۍ او مجادلې له پاره ډیر مؤثر ثابت شول. سقراط هم زیارو کېښ چه ټول انسانان ښه او عادل وي او د انسان اخلاقي معیار د هغه ښه والي تعیین کړي افلاطون خپل خیالي ښار پیشنهاد کړ او په هغه کښې یې خلک پر دریو برخوو ویشل چه په هغه کښې هر سړی به هغه کار کوي چه ډیر ورته مناسب وي او افلاطون ته دا ډیر ښه عدالت ښکاریده هغه ویل چه د دې طبقو په اساس به عوام خلک دنیائي عادي کارونه کوي زړور او جسماً قوي افراد به د جنګ او د وطن د ساتنې له پاره مؤظف وي. علماً او پوهان به فیلسوف شاهان وي او اداره به کوي. نو ښه سړی به کار کوي یا به جنګیږي او یا به حکمراني کوي. ارستو عقیده درلوده چه ډیر انسانان طبیعتاً د دې لپاره مساعدوي چه غلامان وي محض د طبیعت په واسطه لږ کسان حکومت کولو ته مساعدوي ارستو معتقدو چه د سعادت ډیر لوړ شکل د تفکر نظري تحقیقاتو او علمي لیاقتو په کار اچول دي د پوهې سړی د کار له سړی نه ډیر مستحق وي نو په دې اساس اپلاتون او ارستو دواړو عقلي تلقین له عملي مسألو نه ډیر مهم ګاڼه او تاکیداوه یې.

تالس په خپل تحقیق کښې د خپلو مشاهداتو له پاره منطقي دلایل پیدا کړي او دې نتیجې ته ورسید چه او به د ټولې مادې اساسي او خاص جزء دي. هغه په هندسي او نجومي تحقیقاتو کښې چه د کسوف پیشګوئي ته یې لارښوونه وکړه ډیر اهمیت لري. فیثاغورث د موزیك د غږو په شان دستورو په حرکت کښې د ریاضي توافق پیدا کړ او اعتبار یې په دې کښې هم دی چه د ځمکې اوستو رو په کروي اشکالو باندې معتقدو انکسیمندر - Ananimandr ویل چه او به د اشیاوو جوهر دی، کائنات لاانتها دی او انسان د ارتقا په اوږده عمل کښې لوړ مقام لري دی لومړی سړی دی چه څرنګه چه پوهیده د نړۍ نقشه یې جوړه کړه.

انکسیمنس (Anaximenes) د اشیاؤ جوهر په هوا او هراکلیتس په اور کښې ویلی دی.

هراکلیتس (Heraclitus) او امپیدو کلس (Em pedocles) د ارتقا نظریه د تحول او جریان د مفهوم په اساس چه د کائناتو اساسي خواص دي پیشنهاد کړه. لیوسپس (Leucippus) او

دموکریتس (Democritus) میټریلزم ته شکل ور کړچه وروسته دافلسفه دایپکور په واسطه انتخاب شوه. د ق،م په څلورمه پیړۍ کښې دا پلاتون په راتګ سره د میټریلیزم، نسبیت او تحول قوا ؤ د هغه دایډیلزم د فلسفې په مخ کښې ډیر شدید تنزل ولید چه افلاطون په دایمی او مطلق اهدیت باندې ډیر فشار راوړ. افلاطون د سیاسی او اقتصادی امورو په شان په کائنات کښې د واقعیت د ثابته او غیرمتحوله خاصې تر تأثیر لاندې راغلی و. په دې ډول هغه د روح یوه ایډیالی نړۍ طرح کړه چه په هغې کښې بې د اخلاقی او معنوی امورو په څیر د طبیعت ټولو ابدی ثابتو او دائمی افکارو ته ځای ورکړ. هغه د افکارو نړۍ پر حقایقو، ښه والی عدالت، او ښایست مشتمله وه چه زمونږ شاو خوا دنیا ته شکل ورکوی.

هغه وایی د روح نړۍ نهایی حقیقت دی چه هیڅکله نه ورانیږی د مادې دنیا هغه ده چه هلته انفرادی اشیا په کښې او سیږی، پیدا کیږی، لویږی خو سا کیږی او له مینځه ځی. او خپله هم متحوله او غیر ثابته ده. ټول انفرادی اشیا محض د اشیاؤ د ابدی اشکالو غیر مکملې کاپی ګانې دی افلاطون ددې مطلب د وضاحت له پاره داسې مثال راوړی چه ددایرې مفکوره ابدی ده. او هیڅکله تغیر نه مومی. یوه انفرادی دایره چه انسان یې رسموی او یا یې استعمالوی تل نامکمله ده، او خرابیدای شي، ولې ددایرې مفکوره تل په روحی دنیا کښې وجود لری. او د انسان کار ورسره تماس نشی کولی. عین مسأله د نورو طبیعی او مادی اجسامو په حقله وجود لری. او بالاخره دا حقیقت دعدالت ښایست او ښه توب په باره کښې صدق لری. انسانان محض هغه وخت ښه او عادل کیدای شی، چه دابدی عدالت او ښه توب له افکارو برخه ولری.

په زړه پورې خبره داده که پوهان دډیرو پیړیو لپاره دفوق الطبیعی نړۍ په هغو افکارو کښې نه وای مشغول شوی چه دا فلاطون په واسطه پیدا شول، نو دغه نوی ساینس چه په شپاړسمه او اوه لسمه پیړۍ کښې مینځ ته راغی ډیر مخکښې به پیدا شوی وای. که څه هم ساینس بالکل له منځه نه وتللی خو د عقلی کوښښو نو لوی جریان په هغې لارو، چه افلاطون بې اساس کیښود نو دغه د پیړیو-پیړیو بې اعتنائی چه په تعلیم او تربیه کښې د ساینس په باب موجوده وه افلاطون ته نسبت ورکول کیدای شی چه د عیسوی کلیساؤ په واسطه ئی ډیر حمایت وشو.

ارسطو سره له دې چه له طبیعی او حیاتی علومو سره ډیره علاقه درلوده تر ډیر حده بې د افلاطون فلسفه تعقیب کړی ده.

دا رسطو په نظر کښې ټول کائنات له «جوهر» او «مادې» څخه جوړ شوی دی. جوهر د فعاله ژوندانه پر نسیپ دی، چه مادی شیانو ته شکل ورکوی. او د مهندس طرحې او پلان ته ډیرورته دی چه مادی شیانو ته شکلی او معنی ورکوی چه بالاخره یو کورا و یا یو سرك یا یو پول ترې جوړیږی. شکل او جوهر له مادې څخه پخوا د مهندس په زړه کښې گرځی او ترهغه پورې مادی موجودیت نه لری ترڅو چه له مادې سره نه وی یو ځای شوی. ارستو د افلاطون په شان د دوه جلا جلا نړۍ یو موجودیت نه دی تصور کړی ځکه هغه معتقددی چه عمومی او ابدی جوهر محض هغه وخت معلومیږی چه د فردی اشیاؤ په شکل کښې ظاهر شی. د ارستو د دې علاقې تاثیر چه له طبیعی دنیا سره ئی درلوده تر ډیره وخته پورې د افلاطون د نظر ئې په شان و.

ځکه تقریباً یو نیم زرکاله د ارستو ساینسی کارلو یدیځې نړۍ ته په عمومی ډول معلوم نه و. یعنی د پخوانی روم او د منځنیو پیړیو پوهانو ته په طبیعی علومو کښې د ارستو کارواضح نه و. نو له دیارلسمې پیړۍ څخه پخوا له افلاطون څخه ارستو په تعلیم او تربیه کښې لږ تأثیر درلود

افلاطون د انسانی طبیعت په باره کښې هم د هغه د کائناتو د نظر ئې په شان عقیده لری چه انسان له روح او مادې (جسم) څخه مرکب دی چه انسانی روح ابدی، غیر متحول او غیر مادی دی په داسې حال کښې چه د انسان وجود تولدکیږی؛ لوئیږی، خرابیږی او د نور متحولو شیانو په شان له مینځه ځی.

افلاطون د انسان روحی او حیاتی تشکیل په درو برخو ویشی. په دې ډول چه د انسان په نفس کښې اشتها، احساسات او خواهشات وجود لری چه د انسان جسمی تسکین راولی. شجاعت، تحمل، او اراده په زړه یا په سینه کې ځای لری. د انسان ډیر لوړ او ښکته چه د هغه عقل دی په سر کښې متمرکز دی او یو اخې ذکاوت او عقل دی چه د انسان په طبیعت کښې له روح سره ارتباط لری.

او نورې برخې له بدن سره ډیرې نژدې رابطې لری. د افلاطون د «جمهوریت» په اساس هغه څوك چه د خپلو خواهشاتو او اشتهاؤ په اساس عمل کوی باید کاریگروی او هغه څوك چه د شجاعت او زړه له برخې سره موافق عمل کوی باید جنگیان او هغه څوك چه د عقل په مطابق عمل کوی باید حکمرانان او یا فیلسوفان شاهان وی. چه په دې اساس د انسان طبیعت کاملا

دوراثت په واسطه تعینیږی اود تولد له و رځې ثابت وی.

دانسان دطبیعت په باره کښې دارستو نظریه هم تقریباً له افلا طون سره شباهت لری. څرنګه چه هغه ددنیا په حقله نظریه درلودله مشابه له هغې نظریې سره انسان هم له جوهر (روح) او مادې (بدن) څخه مرکب ګڼی. او انسا نی ژ و ند ته دژوندانه له نیټو سویو سره ارتباط ور کوی. دمثال په ډول ارستو وائی چه دا نسا ن طبیعت له نباتی، حیوانی او انسانی خو اصو څخه مرکب دی پدې ډول چه انسان نباتی ماهیت لری د نبا ت دژوندون په څیر وده کوی. نور انسانان حاصلوی فا سد ډیزی او مری. انسان حیوانی طبعیت هم لری چه د نورو حیواناتو په څیر خو اهشات، حسی نقش اوفعا له حر کت لری. خو علاوه پردې ممتا ز ه انسانی طبعیت لری چه دژوندانه تیټ اشکال ئې نه لری، چه هغه عبارت له عقل څخه دی. ارستو وائی «انسان یو معقول حیوان دی» او عقل مر کب دی له (۱) تیټ یا عملی عقل څخه چه عمل پو ر ې مربوطې اخلا قی او عملی فیصلې کوی. (۲) عا لی یا نظری عقل دی چه دهغه په واسطه انسان عمومی او ابدی علم او حقیقت حا صلو ی.

دنړی دماهیت او طبعیت سره دا نسا ن درابطې اساسی فار مولو نه په لر غو نی ر وم کښې دیونان دفیلسوفانو او د کلیسا د مشر ا نو په واسطه وضع شوی وو چه ډ یر متنفذ فکر دافلا طون ریه یلزم ؤ. د و ی روحی امو ر و ته نسبت له هغه شیانو څخه چه هره و ر ځ تغییر مومی ډیر اهمیت ور کاوه رواقیو نو ا و نو ؤ افلاطو نیانو دعقلاؤد دلې په منځ کښې ایه یلزم ته ډیر قوت ور کړ. درواقیو نو دفلسفې پر اساس هرفرد باید خپل ژوندانه ته له ډیر ثابت اوشدید انضباط سره سم لارښودنه و کړی. او له بوالهوسی او مادی نړی له تیر یدو نکی بخت سره علاقه پیدا نکړی. نوی افلا طونیان دا سې یو سیر ی عمل ته ډیر اهمیت ور کوی چه په هغه کښې انسان دایمان اوله جسمی خو اهشاتو نه ډځا ن دساتلو اوروحی کیفیت ته دا عتلاء ور کو او له و ا سطه خد ا ی (ج) نژ د ې کیدا ی شی.

له بلې خوا دا پیکوریانو په واسطه دمتر یلزم تدریس هم کیده چه دنیا له اتمو څخه جوړه شوی ده اودانسان په مقد را تو کو م روحی یا خد ائی کنټرول وجودنه لری اوله مر ګ نه و ر و سته کوم ژوندون نشته دانسان روح هم دهغه دجسم په شان فانی دی نو کوم ضرورت نشته چه له آخرت نه بیر یبزواویاروحی آمادګی ورته ونیسو یو سړی بې له دې چه وروستی جزا تصور کړ ی با ید له خپل ژو ند و ن څخه پوره محظو ظ شی.

یونانیان په دوه اړخیزه فلسفه یعنی په جسم اوروح معتقدوو. خودرومیانو میلان داسې چه یوې فلسفې ته د بلې په نسبت تفو ق قا یل شی. رواقیونواونووا فلاطونیا نوروح ستایه په داسې حال کښې چه ډیرو اپیکور یا نو جسم متفو ق

ګانه او حتی چه دروح له وجود نه منکر و و
ترڅو چه عیسویت ظهور وکړ چه جسمی هیجانات
یې دارادې اوروح تابع و ګڼل او ابدی نجات ئې
له خدای سره په ښورابطو کښې حقیقی و ګانه
چه داخلاقی اوروحی پیغامو په واسطه یې دروم
دنیافتح کړه. ورووروود عیسویت تعلیمـــاتو
مؤسسوی شکل انتخاب کړ او خپل تلقینات
اواوامر یې له یونانی فلسفې سره یوځای کړل ،
مخصوصاً دافلاطون له فلسفې سره . دې کار
قسماً په شعوری ډول صورت وموند ددې د پاره
چه هغه منورین کـوم چه په یونانی فلسفې
معتقد و و راجلب کړی. او قسماً ئې غیرشعوری
شکل درلود ځکه د کلیساؤ ډیر مشران پخوا
له دې چه کلیساته توصل و کړی په یونانی فلسفې
سره روزل شوی وو نود عیسویت په کلمو کښې
یې هم هغه فلسفه ځای کړه چه په عمومی صورت
دایډیلزم اودا فلاطون دډوه لزم یادوه اړخیزې
فلسفې په طرف دریدل چه ددې نظرئې په اساس
نړۍ د کامل العالم ـ الرحیم ـ الروف ـ القادر
خدای په واسطه اداره کیږی اود مادی بدۍ
اوشیطان په مقابل کښې د مستدامه جګړې
اجرورکوی اوڅرنګه چه انسان دروح او جسم
نه مرکب دی نودښه او بد مخلوط دی.

که څه هم منځنۍ پیړۍ چه دروم دامپراطورۍ
اورنسانس ترمینځ واقع دی اوله شپږمې
تردیارلسمې پیړۍ پورې دوام لری د تنور
اوسانیس له نظره یوه متحدالشکله دوره تصور شوې
ده خو که له نژدې نه په دقت سره مطالعه شی
معلومېږی چه په دې وخت کښې هم تل د افکارو
نظریو او عقاید و اختلاف عدم ثبات او تفاوتونو
وجـود درلود. په منځنیو پیړیو کښې تل داسې
خلك موجود وو چه زیـار ئـې کیـښ چـه
دافکارو جریان له خپلـــو عـــقید و ســـره
متوافق وساتی او هم تل داسې کسان موجود وو
چه همیشه ئې دا تکلیف و چه له خپلو
مستقلو عقید و سره سم په یوې لارې او
یا په بلې لارې حرکت وکړی عملی او
مرکزی مشکل داؤ چه ددینی افکارو
او غیرروحانی دلچسپیو ترمنځ مصالحت
واقع شی . خو کلیسا و خپل افکار په قوت
تهدید ـ مناقشو او دفیوډالیزم دغیر دینی
دلچسپیو ، دملی قدرت دایډیال ، دآزادۍ
دایډیال سره چه دامپراطورانو، شاهانو ،
ښاروا وپوهنتونو په واسطه اظهار ېدل
د مصالحت په واسطه په مخ بیول . او ډیر
ځلې به داسې تصور کیده چه انسان د
مادی دلچسپیو او په مابعدالطبیعه کښی
دابدی ژوندانه لپاره باید زیار
وکاږی .

د منځنی پیړیو په اوائلو کښې د کائیناتو
د شکل ، د الـهیاتو ، د انسان د طبیعت او
له خدای سره د هغه د رابطې په حقله د

اگوستین نظر یا تو ډیر عقاید جلب کړی وو. چه تر ډیره حده ئې په افلاطونی فلسفی اتکاء درلود له او عقلی، هیجانی او سری عناصر هم په کښې دخیل وو.

په څوارلسمه پنځلسمه پیړۍ او د شپاړسمې پیړۍ په لومړیو وختو کښې چه د رنسانس په نامه یاد ېږي هم ځینی مهم تحولات مینځ ته راغلل چه له ټولو مهمه ئې د سیکیو (Secularism) یعنی دینوی یا غیر روحانی فلسفه وه که څه هم چه د دې فلسفې ریشو په منځنۍ پیړیو کښې وده کړی وه خو په رنسانس کښې ئې سرعت و موندا و برجستګی ئې حاصله کړه له دې فلسفې سره سره دا فکر تقویه شو چه کلیسا باید غیر روحانی چارې ټولې ترکې کړی او مارسیلو (Marsiglio) ایټالوی چه وروسته د پاریس د پوهنتون پوهاند انتخاب شو په دې یې اصرار وکړ او کاوه یې چه دولت دامنیت او صلحی ښه مدافع دی او کلیسا مخصوصاً پاپان د صلحې او امنیت د ښمنان دی.

(مکیاولی) په پنځلسمه پیړۍ کښې داسې فرضیه درلوده چه انسان طبعاً شریر، خودخواه، حریص او مغرور دی. یو ښه دولت د عامې رفاه موجب کیدای شی د انسان د طبیعت په واسطه هر دولت مخ په فاسد کیدو دی. خو ډیره ښه لاره داده چه داسې دولت وجود ولری چه په آزادۍ باندې بناء شوی وی او د مقتدرې اجرائی، قوی او ملی عسکر و خاوند وی.

سره له دې چه په رنسانس کښې د غیرروحانی فلسفې له خوا د منځنیو پیړیو په هغو مفهومونو چه د انسان د مقدراتو او د کائیناتو د ماهیت په حقله وه ډیر تعرضونه وشول خو د انسان د مقدراتو په باره کښې دینی حکم لیا نفوذ درلود. د انتقاد غبزپورته شو خو هغو مره تاثیر چه ساینس په ورستیو پیړیو کښې بریښود په دې وخت کښې موجود نه شو که څه هم چه د کوپرنیک د آثارو په شان حرکت شروع شو خو تر ډیرې مودې داسې انقلابی حکمونه ښه تشخیص نه شول.

په شپاړسمه او اوه لسمه پیړۍ کښې سره له دی چه د کلی قدرت اصالت هم ډیر نفوذ درلود په ځینو ځایو کښې عقلیت او حریت په ښه شان معلومیدل. مثلاً د اوه لسمی پیړۍ په وروستیو وختو کښې شکاکین، ساینټسټان، عقلیون او بدعت کاران نسبت له پخوا وخت نه ډیر محفوظ او ډیر آزادو په دې وخت کښې که څه هم چه په یورپ کښې مذهبي اصلاحات مینځ ته راغلل او د مذهبي اصلاحاتو په دورې باندې یاد یږی خو د انسان د طبیعت، له کائناتو سره د هغه رابطه

اودانسان مقدراتو په حلقه هماغه دعیسوی دین نظریاتو دوري تر اخیره پاتې شول. اوسره له دې چه په دغه دین کښې د( پرو ټستا نټ) او( کاتولیك)فرقې پیداشولې . په دې موضوع کښې دواړو یوشان نظرئې درلودلې . داو ړو فرقو طبعي دنیا اوما بعد ا لطبیعه د نیا با ند ې عقیدې در لودلې . دوا ړه معتقد ې و ې چه دانسان طبیعت دوه اړخیز شکل لری چه له روحې عناصرو او مادی عناصر وڅخه مر کب دی . چه لومړی یې روح او وروستی یې جسم دی چه په هغه کښې روح ډیر اهمیت لری .

په اتلسمی پیړی کښې دکائناتو له علمی تحقیقاتو او تأویلاتو څخه چه په نوی ساینس یې اساس در لود معقول ژو ندون نموومو ندله. د د ې سا ینس په مجسم کولو کښې نیوټن ډیر مهم رول لری چه په (۱٦۸۷)م کال کښې دهغه «طبیعی فلسفه او دریاضی پرنسیبو نه» نشر شول نیوټن د «طبیعت قوا نین » په داسې شکل سره مرتب کړل چه تر د یر ه وخته ئې اهیت ،درلود .دځمکې دجا ذبې قا نون او دعلت معلول قانون په واسطه کائنات داتمود مرتب سیستم په شان چه په مطلقه ځای اوو خت کښې حر کت کوی تشریح شول . چه په دې ترتیب دنړ ی د نویو افکار وخوا ته هدایت وشو چه میټریلزم یا « دمادی اصالت» فلسفی ته ورسید. میټر یلستان د فعتاً دې نتیجې ته ورسید ل چه هیڅ شی بې له مادې و جود نه لری ا و هر شی دا تمو په شکل کښې د میخا نیکی طبیعی قو انینو پراساس حر کت کوی . دوی د روحی نړی قول مفهو مونه افناء کړل . په بل انجام کښې ایډ یلستا نو په ډیر شدت سره په ساینس او میټر یلزم باندې تعرض وکړ او و یل یې چه دنړی جو هر رو حی او فکری شی دی . په دې منځ کښې یوه بله فلسفه مینځ ته را غله چه دائیزم (Deizm,) نومیږی د ایډیلستانـــو دمیټر یلزم او ایدیلزم له مصالحت نه نوی افکار یې ایجاد کړل .چه نه دمیټر یلستا نو په شان ماده اساس ګڼی او نه دد ینی ا ید یلستا نو په څیر په ساینس تعر ض کوی .

د اتلسمې پیړی مفکر ینود انسان دطبعیت په حقله تر ډیر ه حده له نیو ټنی فرضیو سره مو ا فقت د رلو د چه یو له ډ یر و مشهو رو فیلسو فانو څخه «جان لاك» و چه دا وه لسمې پیړی داو ها بس څخه یې څه پیر و ی کړی ده.«جان لاك»دانسانی طبعیت قوا نین په علمی طریقه ترتیب کړل. دهغه اساسی فر ضیه داوه چه دانسان طبیعت د تو لد په وخت کښې نه دی تعیین شوی بلکه هغه تصادم دی چه وروسته له زو کیدونه دمحیط اودغیر متشکل او خامو عضوی موادو تر مینځ واقع کیږی په عین زمان کښې جان لاك یو شد یده میټر یلست نه و . هغه عقیده درلود له چه ر وح او د ماغ کیفیتو نه لری چه په دې اساس هغه په ا تلسمې پیـړ ی کښې هغه حیثیت د رلو دلکه چه ډیکارټ

په اوه لسمه پیړۍ کښې د رلود . میټر یلستانو لکه تالند (Toland) لامتری (La Mettrie) هو لیچ (Hollech) او داسې نور و و یل چه کوم شی لکه روح بی دبدن له حرکت څخه و جود نه لری او هر شی کاملا مادی دی .

له بلې خوا ایډیلستان لکله برکلی (Berkeley) معتقد و و چه دانسان دژوندا نه جو هرر وح او درك کوونکی دماغ دی، بدن د روح په وظیفو پورې ارتباط لری میټر یلستان عقیده لری چه دانسا نی ماهیت ټول ماده او ایډیلستان وائی چه روح دی او شکا کین وائی چه یو یې هم نه دی.

په اتلسمې پیړۍ کښې ډیره مهمه خبره داوه چه هغه مفکوره مخ په پر یښود وشوه چه چه تل به یې داسو ال پورته کاوه چه انسان ښه دی او که بد؟ دلته ژان ژاك روسو خاص اهمیت لری ځکه هغه دډیرې پخوانۍ مفکورۍ په مقابل کښې قیام و کړ، چه ویل کیده به چه انسان اصلاً شریر خلق شوی دی او له تولد څخه د فساد میلان لری .روسو ددې مفکورو په ضد حرکت و کړ هغه اصرار و کړ چه انسان اصلاً په طبیعت کښې پاك او ښه خلق کیږی چه وروسته داجتماعی موسسو په واسطه فاسد یږی .

په نو لسمې پیړۍ کښې ځینی فلسفې جریانات په یواړ خیز صورت منځ ته را غلل چه یو څو یې دلته ذکر کوو: ددغې پیړۍ په لومړۍ برخه کښې ډیر متنفذ فلسفی نظر مطلقه ایډیلزم ؤ .چه دجرمنی فیلسو فانو لکه کانت ، فچ، هیگل اود اسې نو رو له کا رو نه یې نشأت و کړ . دغه ایډیلزم د ا تلسمې پیړۍ دعلمی عقلیت دعمل په مقا بل کښې یو عکس العمل و چه په عمومی ډول یې تمایل د رلود چه دینی فضا دساینس نظر یې په مقابل کښې تقو یه کړ ی .

دنولسمې میلادی پیړۍ ډیر لوی علمی موفقیت دار تقاء دمفهوم منځ ته راتلل ووچه دانسا ن په عمو می نظر با ندې یو ا نقلا بی بر خورد و .

او لینالوس (Lennalus) مالییس (Malethus) لامارك (Lamark) او ترټولو مهم چارلی داروین (Char les Darwin) له کا رو څخه یې منشأ واخیسته او بسط یې وموندد ارتقأ نظریه نه یوا ځې په ځمکه باندې دژوندانه دمبدأ یوه مخصوصه بیا لو ژ یکی تشر یح وه بلکه دانسان او د هغه داجتما عی مؤ سساتو دا نکشاف عمومی تر جمه وه څر نگه چه ډاروین په بیا لو ژیگی تشر یحا تو کښې بر جستگی د رلو د له هر برت سپینسر (Her Gerts Pencer) او تاماس هکسلی (Huxley) د ار تقا دنظر یې د ډیرو تطبیقاتو په تعمیم کښې ډ یر شهر ت حا صل کړ او دوی ډیر زر ددنیا او دانسان دمبدأ په بـا ر ه کښې لـه عـنعـنوی عـقـا ید و سره

مخالفت اعلان کړ ساینس او ارتقا په ګډه سره د علمي تحقیقاتو او نورو د یرو علمي ساحو په حمایت د ینی تفوق او ایډیلزم ئې د نولسمې پیړۍ په ورو ستې نیمایي کښې ترتهدیدلاندې ونیول او ساینس ارتقاء او ریلزم له پخوانه ډیر قوت وموند.

په نولسمې پیړۍ کښې د کاینا تو په باب متضاده مفهوم مونودوه لوی شکلونه انتخاب کړل. چه د دین او ارتقاء په منځ کښې د ینی تناقض او د مطلق ایډیلزم او ریلزم په منځ کښې فلسفي تناقض د ی.

د ایډیلزم او ریلزم نقاضت له پخوا څخه د کایناتو په حقله وجود درلود خو په دې پیړۍ کښې یې نوی شکل و ینو. یو ې پخوانۍ شخړې د هغو په منځ کښې چه افکار و او معنویاتو ته به ئې اهمیت ور کاوه او د هغو چاچه د طبیعت خارجي د نیا او مادي اشیا وته د حقیقت په حیث به یې اهمیت ور کاوه وجود درلود د یونان د ایډیلزم په اساس افکار عالي حقیقت د ی او طبیعي اشکال محض د خیالاتو په شان تیریږي. ډیکارت ویل چه دوه مساوي او حقیقي جریانونه وجود لري چه فکر او ماده ده د نولسمې پیړۍ د لومړیو و ختو مطلق ایډیلزم ماده او معنی یې دا سې توحید کړی چه افکار او معنی نه یوا ځې د فردي توجه عالي مرکز تشکیلوي بلکه خپله د کایناتو د ساختمان اساس هم د ی. داسې وحدانیت ته درسید لو له پاره ایډیالسټان په ایمان، هیجان او سري احساساتو اتکاء کوي چه نتیجې ته رسیدل هم په کښې مضمر ګڼي د دې مشهور فیلسوفان -- فیچ - چیلنیګ او هیګل دی او د هیګل د دیالکتیک د اصول په اساس هر اجتماعي او معنوي عمل د فرض- نقیض او ترتیب له درې مرحلو تیریږي.

دایډیلزم په مقابل کښې د ار یلزم فلسفې هم په نولسمې پیړۍ کښې ډیره توسعه وموندله د دې پیړۍ په اوا سطو کښې دا فلسفه د ګوست - کونت له خوا تفسیرشوه چه فلسفه له درې مرحلو تیره شوې (۱) د ینی مرحله چه هغې کښې د طبیعي حادثاتو د تشریح له پاره ما فوق الطبیعه شیانو ته توسل کیده (۲) د متافزیک مرحله چه په هغې کښې د طبیعت د توضیح له پاره مجرد و موجود یتو نو ته توسل شوی دی. (۳) مثبته یا فزیکي مرحله چه په هغه کښې د طبیعت د عملي توضیح له پاره ساینس او اساسي اصول استعمالیږي

دایډیلزم او ریلزم ترمینځ اساسي مجادله یوا ځې د کائناتو او طبیعت په باره کښې په تناقصو مفکورو کښې نه ده بلکې د انسان د طبیعت په فکري، اخلاقي او عقلي جنبو فشار راوړی او په ځمکه کښې یې د خدای د نور د تظاهر په حیث تصور کوي عقیده لري چه انسان د اخلاقي او عقلي اوصافو په واسطه له ماقبل طبیعت

ځنې فرق لري ریلسټان اکثره د انسان د طبیعت په حلقه له ساینس او له ارتقاء ځینی الهام اخلی او وائي چه انسان له طبیعت سره به مستدام ډول ارتقاء کړی او د طبیعی ژوند ډیر غامضی شکل یی اختیار کړی دی او انسان د دماغ او وجدان عالی خواص د ارتقاء په طبیعی ملکیت کښې حاصل کړی دی.

د نولسمې پیړۍ په فلسفی ژوند کښې د امریکا ډیر مهم معاونت پر کمتزم «د عمل اصالت» یا یوی فلسفی معرفت ؤ چه تر ډیر حده د ارتقائی نظر ئې په پرنسیپو اساس لری د ارتقاء ډیر برجسته تاء ثیر د دین قدرت په مفهومو باندې و چه د دین له نظر سره یې په مستقیم ډول متضاده مفکورې بیان کړې لکه دا چه ځمکه په ملیونو کلو کښې پیدا شوله. او نه یوائې د ایدیلزم قدرت د ارتقائی ساینس تر تهدید لاندې راغی بلکه غیر عمل عنعنات هم د یوې نوې فلسفی یعنې پر گمتزم تر تعرض لاندې واقع شول. د امریکائی ژوند له وضیعیت او د داروین فلسفی مقالو نه چارلس پیرس او ویلم جیمز یوه پراگمتیک فلسفه ترح کړه چه هغو تصورو کړ چه د افلسفه د ژوندانه له تحولو سره ډیر متناسبه ده. پراگمتزم کائناتو ته اساساً غیر مکمل او تحول په حیث نظر لری د موجودیت او تجربې متنوع اشکال د عضوی وحدت او د ایډیلزم د تجانس په مقابل کښې واقع دی. او حقیقت د علم یو واحد او محدود وجود نه دی چه د انسان د ټولو تجربو په خلاف ښه والی لری حقیقت له هغو نتیجو سرهٔ تعلق لری چه هغه وخت واقع کیږی چه انسان په معینو لارو کښې عمل کوی. کله چه د ژوندانه په اقتضاء د عمل او تفکو را صول پیشنهاد کیږي نو حقیقت تحول ته تابعیت لری په بله پیړۍ کښې د جان دیوی تجربې فلسفې دالیا ډیره مشکله کړه چه د محدوده متیا فزیکی سیستم څخه د حقیقت په حیث دفاع وشی.

په شلمې پیړۍ کښې په عمومی ډول د ارتقاء نظر نسبتاً په وسعت سره قبوله شوه بشر یا تو راوښوو له چه انسان په فزیکی او ثقافتی ډول د ډیر اوږد تعامل په اثر چه خپل محیط سره یی درلود دې مرحلې ته ارتقاء و کړه او کله چه علمی تحقیقاتو ته اجازه ور کړه شوه ثبوت یې کړه چه د نازیانو او فاشیسټانو نژادی تفوق او د نژادی پاکوالی نظرئې بالکل غلطې دی او ټول بشر پیژندونکی په دې موافق دی چه انسان ټول یوشی دی او د پوست، جسم د سر یا د پوزې د جوړښت په اساس ټول فرقونه مهم نه شی تصور کیدای او داسې موافقه شته چه د انسانانو په منځ کښې اساسی فرق د ثقافت، ژبې، عاداتو او تعلیم او تربیې په اساس دی.

انفرادی فرق د انسانانو په منځ کښې مسلم فرق تصور شو چه هیڅ ډول نژادی اثر په کښې

وجودنه لري. اودغه انفرادي تفاوتونه دروحياتو ډيره مهمه برخه ګرځيدلې ده. چه دروحيا تو دعلماؤ ډيره علاقه دفردي تفاوتو په حقله دحسي ادراك دعلمي تحقيق په باره کښې ده يو بل انکشاف دروحي تحليل مينځ ته راتلل دي چه دانساني طبعيت په مفهوم باندې ډير مهم تأثير لري. چه اساساً دسګمند فرويد (Sigmund Freud) او الفرد ادلر AlfredAdler په واسطه يې بروزو کړ. دوي په ځوانانو کښې دافکارو غير طبيعي حالت عواملو دپيدا کوله پاره کوشش وکړ. دوي ټولو موافقه کړي ده چه ددغو غير طبيعي حالاتو ريشې دفردي او اجتماعي خواهشاتو په نقاضت کښې دي چه دانسان دطفوليت په دوره کښې اکثراً له دوه کلنۍ تر پنځه کلنۍ واقع کېږي.

دغو پسيکوانالستانو دروحي واقعاتو دتحليل علماؤ يو دوه اړخيزه مفهوم دانسان دطبعيت په حقله پيدا کړ او وايې چه دانسان ددماغ او بدن په شان چه سره يو ځاي شوي، دماغ هم دوه اړخيزه تشکل لري. او مرکب دي دعقلي انتخاب شعوري دماغ او تحت شعوري دماغ څخه چه دانسان ډيرو فعاليتو ته لار ښوونه کوي. کله چه په يو فرد کښې افکار او عقايد سره مقابله شي نو هغه داجتماعي تقاضا له فشار سره مخامخ کېږي ځيني افکار او عقايد. فشاروينې چه بالکل نه افنا کېږي بلکه تحت شعوري حالت نيسي چه په متمادي ډول عمل کوي.

او اکثراً غير عادي کارونه ترې ظاهر ېږي فرويد دا کثرو فشار لاندې افکارو او خواهشاتو علت په جنسي مسايلو کښې مداخله ګڼي. هغه جنسي عوامل دفرد دحرکت کلي قوه ګڼي ادلر اساسي انساني محرك دقدرت آرزو بولي. وايي کله چه طفل داجتماعي فشار ترتاثير لاندې دتفوق ارزو تحت شعور ته سپاري نو په ځوانۍ کښې هغه باعث ګرځي چه غير متوقع کارونه وکړي او غير عادي حرکات ترې وليدل شي.

دانسان دماهيت اوله طبعيت سره دانسان درابطو په باره کښې دتفکر درې طرزو په امريکا کښې نفوذ پيدا کړ. يو له دغو عنعناتو نه توسل و. چه په دوي کښې نوي بشر دوستان، مفکرين او ديني مشران وو. دتفکر بل طرز طبيعي ساينس ته مراجعه وه چه دنيا او دانسان طبعيت ته يې توضيحات ورکول. دريم طرز دارتقايي افکار و، پراګمتزم، او د فلسفې ژوند لپاره اجتماعي اصلاحاتو او دتجربي فلسفي نوي مفهومونو ته توسل دي.

دا يډيلزم، رشنلزم، ډوه لزم او انساني طبعيت له فلسفو څخه دعنعناتو او محافظه کارۍ مؤثره افکار په شلمې پيړۍ امريکا کښې منځ ته راغلل چه ډير افراطي محافظه کارانو دبشردوستانو نوم ځان له اختيار کړ. په عمومي ډول دغې ډلې دنويو علمي او اجتماعي نظريو په مقابل

کښې یو دفاعی عمل درلود په اجتماعی نظریو کښې دوی د اجتماعی اصلاحاتو په ضد دارستو کرسۍ او اجتماعی محافظه کارۍ طرفداران وو. دوی د اقلیت دښه والی د دسپلین طرفدار وو نسبت له دې چه د ټول بشر خیر خواهی ولری او ټول بشر ته دیو کل په حیث دومره اهمیت نه دی و کړی لکه افرادو ته چه یې ډیر اهمیت ورکاوه او افلاطونی، ارستو یې او د منځنۍ پېړۍ فلسفو ته یې ډیر میلان درلود.

دهیو مسټانو (بشر دوستانو) ډیر شدیده تفکر د انسان او طبیعت ترمینځ د دوه اړخیزه فلسفی «ډوه لزم» تقویه وه. هغوی عقیده درلود له چه د انسان او طبیعت ترمنځ یو مطلق فرق موجود دی. او هغوی معتقد وو چه انسان ځینی بې نظیره عمومی او ابدی اوصاف لری چه هغه له ټیټ طبیعت څخه لوړ ساتی یا په بل عبارت دوی له ارتقا یې نظریې سره په قطعی ډول مخالفت لری د دوی په نظر هغه ملکات چه انسان له ټیټو حیواناتو څخه جلا کوی وجدان، عقل، دښایست خوښولو حس او دین دی. او وجدان د انسان ازلی جزء دی عقل یو عمومی لیاقت دی چه فرق او قضاوت اجرا کوی د انسان د ښایست خوښولو لیاقت د وقت تابع نه دی او په غیر محدود صورت انسان ته نورو حیواناتو څخه لوړ موقف ورکوی. او ځینی هیومسټان وایې چه دینی غریزه په انسان کښې عمومیت لری. او د انسانی طبیعت د غه اوصاف په عملی طریقه نشی څرګندیدای

د هیومنزم فرضیې د علم، حقیقت او انسانی ارزښت ممیزه مفهومو له پاره مخصوصې ضمنی اشارې لری. هیومنسټانو د ارزښت په مطلقو سټنډرد و عقیده درلود له چه د هغو په واسطه یې علم او حقیقت از مییل. د دوی له پاره ارزښتو له داسې موجودیت سره ارتباط درلود چه فوق الطبیعه و او علم او حقیقت ته یې غیر متحول او مقتدره خاصه ورکوله. نو علم د رښتین پرنیسیپو یو ثابت وجود اختیار کړ چه د نژادی وراثت په واسطه انتقال مومی.

له «۱۹۳۰ تر ۱۹۵۰» پورې په امریکا کښې یوه ډله خلك وو چه د انټلکچوالسټانو (منورینو) په نوم یادیږی چه د انسانی طبیعت د عنعنوی مفهومو هواخواهان وو. دوی له ډیرو جهاتو له هیو منسټانو سره موافقت درلود. خو نسبت له هغو نه یې ادبی او لسانی فشار سره لږه علاقه درلود له او د انسان له نورو فعالیتو څخه ذهنی وظیفو ته یې ډیر اهمیت ورکاوه. د ډوه لیزم په دماغ او جسم کښې دوی په ډیر صراحت سره دماغ ډیر اهمیت قائیل ووا و له جسم سره یې مخالفت کاوه او دوی تعلیم او تربیه د افکارو انکشاف ته متعلقه ګڼله او د انسانی فعالیت له اړخ نه یې اغفال کاوه د هغو سیکالوجی هغوی داسې تحریك کړل چه د داسې فعالیتو لکه «ذهنی تربیه» د «ذکاوت روزنه» د «ذکاوتی قدرت» او «دماغی دسپلین» د فایدو ډیر توصیف وکړی.

دشلمې پېړۍ امریکا کښې دمحافظه کارانو دعنعنوی مفهومو علی الرغم نوی ساینس ډیر خلك جلب کړ ل . پـه دغې پېړۍ کښې د نیو ټنیا نو « Newtonians » د سا ینس دمفهومو اودا گوستې، کومتا وهربرټ سپنسر دپوزیټیوزم « مثبتې فلسفې» پـه اسا س نوی ریلستانو دنیا داسې توضیح کړه چه دیو ماشین په حیث چه دغیر متحول طبیعی قوانینو اطاعت کوی چه پـه هغو کښې فوق الطبیعی ا وعقل ترجمه لږ ځای لری اویا هیڅ ځای نه لری هغو لره ډولزم څخه مخ اړولی او انسانی بی دیوغامضه ماشین په څیر تعبیر کړی چه دهغو دعمل اندازه پخواله بخوا الگول کیدا ی شی او حتی دصحت او اطمنان دلوړې درجې په واسطه کنټر ولیدای شی نو انسان دطبیعت دیوجزء به حیث تصور شوی دی چه دحیواناتو له علمی مطالعې څخه دانسان په حقله ډیر څه زده کیدا ی شی . په دغی پېړۍ کښې دامریکا ډیرسیکالوجستان دعلمی رالیزم فضا ته داخل شوی دی دامریکا دشلمې پېړۍ اکسپېرنمټلزم( تجربې فلسفه ) ددولزم عنعنوی نظرنه انکار کوی چه انسان له طبیعت دماغ له جسم ، فر دله جامعې ا وعلم له عمل څخه بیلوی . برعکس ددې فلسفی په اسا س انسان اصلاً د طبیعت جزء دی . او لـه نورو عضوی اعضا ؤ سره په ثا بته ذات البینی عمل کښې له خپل طبیعی اواجتما عی ماحول سره ژوند کوی . یه دې علت فر دله جمعیت څخـه بیل نه دی بلکه په خپل بې نظیره شخصیت سره دیو اجتماعی اشتراك دنتیجې په حیث او داجتماعی وضعیت په واسطه انکشا ف کو ی . یا په بل عبارت انسانی طبیعت دټول وخت له پاره دثابت او ابد ی شی په حیث نه بلکه په ثقا فت کښې اودثقا فت په واسطه دعکس العمل دنمونې په حیث تصور شوی دثقافت تفاوت مختلف اشخاص مینځ ته راو ړی چه دانسان نژ اد پو ر ې هیڅ ارتباط نه لری او دمحیط په اختلاف سره مختلف شخصیتونه بروز کوی . یا په بل عبارت ژوندون دفعاله محیط اوفعال فرد ترمینځ دمستدامه ذات البینی توافق په حیث تصورشو ی . کردار هغه وخت پورته کیږی چه د فرداو محیط توا زن متزلزل شی . اوفردکښې د کشش او اضطراب باعث شی چه هغه غو اړی په محیط کښې دعمل په واسطه توازن برقرار کړی. په دې عمل کښې فرد دخپل کردار په واسطه تغییرمومی او محیط هم دهغه د کردار په واسطه تغییر کوی ،

څېړنه او لیکنه

دعبدالقیوم «کوچی»

# دامریکی دمتحده ایالاتو داساسی قانون

## ځینې اړخونه

په ټوله نړۍ کښې دا تلسمې پیړۍ په ورو ستیو کلو کښې د لومړی ځل د پاره د اتا زونی (د امریکی متحده ایالاتو) په هیواد کښی یوه لیکلې شوې (مکتوبه) قانون نامه جوړه شوه او دعمل ډګر ته راووتله. په امریکې کښې ددغې لیکلې شوې اساسی قانون نامې جوړیدل چه لیا دسیاسی سیستمونو له پلوه په نورو ملکو کښې مروجه شوې نه وه - په لاندنیو اساسونو بنا شوې وه:

(۱) د امریکې د هغه وخت د یارلسو ایالتونو چه د برتانیې تر استعماری جغ لاندې اداره کیدل - خپلې ټولې اړیکی او تماسونه د انګلستان له حکومت او نورو تجارتی کمپنیو سره د چاړټ په ذریعه تنظیم او ټینګ کړی وو.

(۲) دجان لاك اورو سو افکار وپه تیره بیاد روسو داجتماعی تړون کتاب او د اتلسمې پیړۍ دنور وفیلسوفانو پخو نظریو د امریکې په ولس باندې ډیره اغیزه کړی وه.

(۳) د امریکې سیاسی رژیم یو فډرالی نظام واو څنګه چه په فډرالی نظام کښی دوه ډوله دولتونه لیدل کیږی یو مرکزی دولت او ایالتی دولتونه: نو دمرکزی او ایالاتی دولتونو د مناسباتو د ساتلو او د هر یوه د صلاحیت دټاکلو دپاره هم د یوې منظمې لیکلې شوې اساسی قانون نامې جوړولو ته ضرورت او اړتیا محسوسیدله.

د امریکې دې لیکلې شوې آئین نامې د وه ښکاره ګټې لرلې - یوه داچه داساسی قانون نامې ارزښت دعادی قوانینو نه زیات وی - بله دا چه اساسی قانون په اصولی طریقه چه ترمیم (امان دومه) نومیږی تعدیلیدای شی له بلې خوا د امریکې د اقانون نامه چه په «۱۷۸۷» عیسوی کال کښې جوړه شوې ده دیوه فډرالی پکټ (تړون) دتنظیم په غرض هم منځ ته راغلې او د یوه داسې نظام د جوړولو دپاره تدوین شوې وه چه دهغه په بنسټ پرته له دې چه یو مرکزی قدرت جوړیدای شو دنورو دولتونو (ایالاتو) د شخصیت ساتنه هم په کښې په پوره پاملرنه کیدای شوه.

امریکې چه کوم سیاسی سیستم جوړ کړ دډیرو اړخونو له پلوه یوه بې سارې او ابتکاری مفکوره وه. ددې سیستم جوړیدل د هغې د طرفدارانو دپاره د ډیرو مشکلاتو

او سر خوږیو باعث شوه .

ددې سرخوږ یولوی د لیل داوچه کوچنی د ولتونه (ایالات) دیوه قوی او غښتلی مرکزی د ولت له جوړ یدو نه بیر یدل نو ځکه یې د فډر الی سیستم دعملی کید وپه لیاره کښې ډیر خنډ ونه هم پیدا کول .مګر سره د دې خبر و بیا هم د فډ رالی نظام د جوړ یدو طر فداران بر یالی شول او دا سیستم یې په پښو و در اوه .

په امر یکې کښې فډ رالی نظام هغه وخت په حقیقی بڼه بر یالی شو چه ابر اهیم لینکن د امر یکې نامتو جمهوری رئیس په کـال (۱۸۶۲م) کښې د خلکو د نظر یا تو په سرته ر سو لو کښې په تیر ه بیاد غلامۍ د مؤسسې د ړ نګو لو په غرض په نور و حریفا نو باندې د امر یکې په داخلی جنګ کښې فاتح شو ـ د ابراهیم لینکن بر یا لیتوب ددې سبب شو چه دنور و د ولتونو (ایالاتو) د هر یو ه ځا ن ـ ځانته د خپلوا کۍ لر لو نظر یات شنډ شی او فیډ رالی نظام اجباری و ګڼلی شی .له بلی خوا دابراهیم لینکن کا میابیدل دامریکې دفډرالی د ولت ـ د دولتو نو ډ یمو کراسۍ دامریکې دخلکوا وولس پر ډیمو کر اسۍ بدله کړه او ترټو لو دا چه دسپین پو ستو اوتور پوستو په مینځ کښې تر پخو ازیات مساوات ټینګ کړا ی شو ل .

دلومړی ځل دپا ره د ا مر یکې په نړۍ کښې د ر یـاست جمـهـور ی سیستم (PRES1DETIAL SYSTEM) مینځ تـه راوست.او دا څر ګند ه خبره د ه چه په د ې رژ یم کښې نسبت نورو ټولو ر ژ یمو نو ته ددرې ګو نوقو او و په مینځ کښې د تفکیك او بیلید ومراعات شوی دی. او د هرې قوې حد و داو صلا حیت په ښکا ره ډ ول څر ګند شو ی دی. سره له دې بیلید و او جلا والی چه دد رې ګو نو قوا وو په مینځ کښې په فډرالی سیستم کښې نیو لی شو ی د ی ـ دا جر ا ئیی صد ر یا په بله ژ به صد ر اعظم دد ولت صدر هم ګڼل کیږ ی .

په امر یکا ... وو مجلسو نو سیستم قـا نو ن نامې پا س کړ ه چه په (۱۷۸۷) کښې جو ړه شوې وه . د اد و ه مجلسو نه چه دنما یند ګا نو ا و سنا مجلسو نه دی په ګډ ه سره د کانګرس په نا مه یا دیږی .د نمایند ګانو په مجلس کښې (۴۳۵) غړی ګډ و ن لری چه د هرې سیمې د و ګړ و په تناسب د دوو کلو دپا ره انتخابیږ ی ـ د امر یکې هغه و کـړی ددې مجلس دپاره ټا کل کیدای شی چه داوو (۷) کلو په موده کښې یې د امریکې ملیت لرلی وی او هم یې له (۲۵) کلو عمر ا وښتی وی یا (۲۵) کلو ته رسید لی و ی .

دسنا مجلس ته هر ا یا لت د وه کسه

نمایندګان ټاکی چه په دې معیار دسنا په مجلس کښې (۱۰۰) تنه نمایندګان ګډون لری. دا نمایندګان د(٦) کلو د پاره ټاکل کیږی او په هر کال کښې دد وی د ریمه برخه نوی کیږی - ددې مجلس غړی باید (۳۰) کلو ته رسیدلی وی او (۹) کاله یې دامریکې په تابیعیت یا ملیت کښې تیر شوی وی- کانګرس په کال کښې یوار د جنوری د میاشتې له دریمې نیټې څخه د جولای تر ۳۱ نیټې پورې غونډې کوی. په کانګرس کښې د مباحثو په حلقه په زړه پورې تنظیم نه دی شوی ځکه له یوې خوا د کانګرس صدر (SPERAKER) د برتانیې د کانګرس به څیر په خبرو کښی بې طرفه نه وی او له بلې خوا د خبرو کولو وخت او اندازه ښه نه ده ټاکل شوې. نو کله که په کانګرس کښې دیوه ګوندیو غړی په خبرو پیل وکړی او نه غواړی چه د بل ګوند غړیو ته موقع ورکړی - خپلو خبرو ته دوام ورکوی او په دې ډول د کانګرس وخت تیروی او د بل ګوند غړیو ته د انتقاد چانس نه پریږدی د مثال په ډول د نولسمې پیړۍ په وروستیو کلونو کښې د کانګرس یوه غړی چه فیلپ ایسټر نومیده ددې په حقله چه د مخالفت ګوند غړو ته د خبرو کولو موقع ورنکړی د (۲۷) ساعتونو د پاره په کانګرس کښې وینا وکړه.

دامریکې کانګرس پر خپلو ویشلو شویو وړواولو یو جرګه ګیو باندې خپل کارونه په مخ بیایې. او دا جرګه ګی کله که لازمه شی د پلټنې په کمسیونو هم بدلیدای شی- او دا کمسیونونه که چیری د اجرائیې له مسؤلو کسانو نه پوښتنو ته ضرورت ولری - نو مئوظف اشخاص د کانګرس غونډو ته راغواړی او دهغو په چارو کښې پوښتنې کوي چه په حقیقت کښې په دې توګه دا جرګه ګی د اجرائیې د قوې کنټرول او څارنه کوی. که سړی دې موضوع ته ښه ځیر شی او ژور دقت وکړی نو ملتفت کیدای شی چه دا خبره د قواوو د تفکیک او جلاوالی پرنسیپ ته سخته صدمه رسوی د قانون وضع کول د کانګرس وظیفه ده - او دا وظیفه په دواړو مجلسونو کښې په برابری سره سرته رسوله کیږی - مګر یوازی د مالی مساءلو پروژې د نمایندګانو په مجلس پورې په خاص ډول اړه لری او له هغه ځای نه نشاءت کوی. ولی سره ددې په عملی طور د قوانینو پیشنهاد د نمایندګانو د مجلس له خوا وړاندې کیږي. او دا هم باید په یاد لو ساتل شی چه دا سې پیشنهادونه د کانګرس د شروع کیدو په لومړیو ورځو کښې سرته رسول کیږی - ځکه چه په نورو وختونو کښې دا حق یوازې په یوې خاصې کمیټې (Rule Committee) پورې تعلق نیسی.

که چیرې په کانګرس کښې د دواړو مجلسونو (سنا او د نمایندګانو مجلس) په منځ کښې د کومې پروژې په حلقه اختلاف پیداشي - نو د دواړو مجلسونو په ګډون یو د روغې کمسیون جوړ یږي او دغې پروژې باندې چه موافقې ته سره پرې نه وي رسیدلی غور او څیړنه کوي. که بیا هم روغې ته ونه رسیدل هغه اختلافي پروژه په مطلق ډول له مینځه ایستل کیږي او بیا خبرې نه پرې کیږي.

د کانګرس بله سترهٔ وظیفه داده چه د لزوم په وخت کښې د لویې جرګې (د مؤسساتو د جرګې) کار کوي. بله دا چه که چیرې په امریکې کښې د ګوندونو له خوا د جمهور رئیس د ټاکلو په وخت کښې یو اکثریت حاصل نه شي نو په کانګرس کښې جمهور رئیس د نمایندګانو د مجلس له خوا او د هغه مرستیال - د سنا له خوا ټاکل کیږي. مګر ترننۍ نیټې پورې کانګرس خپل دا حق په کار نه دی اچولی ځکه چه په امریکې کښې دوه ستر ګوندونه (د ډیمو کراتو او جمهوري غوښتونکو ګوندونه) موجود دي او په انتخاباتو کښې حتماً یو اکثریت ته سره رسیږي.

د سنا مجلس د لویو مأموریتو په مقررولو کښې لویه برخه لري او هم د امریکې د خارجې سیاست او د سفیرانو په ټاکلو کښې لوی لاس لري - کله چه د امریکې جمهور رئیس د امریکې د پاره خارجي تړونونه منظور وي - نو لازمه ده چه د سنا د مجلس (۲ پر ۳) دوه ثلثه راءیې حاصلې کړي مګر که په وړو مساءلو کښې د خارجي هیوادونو سره جمهوري رئیس په کوم تړون لاس پورې کوي - د سنا له مجلس نه راءیه نه اخلي - بلکه یوازې خپل لاسلیک پرې کوي. مګر دا خبره باید وویلی شي چه د امریکې عالي دیوان د دې تړونونو نتیجه چه یوازې د جمهور رئیس په لاسلیک ښکلې شوې ده له نورو تړونونو سره مساوي بولي.

**د جمهور رئیس انتخابیدل:**

په امریکې کښې د جمهوري رئیس انتخابیدل په خاص ډول سره په دوو مرحلو کښې سرته رسیږي. په لومړي سر کښې هر ګوند په ټولو ایالاتو کښې خپل نمایندګان ټاکي. او بیا د هر ګوند منتخب نمایندګان په مجموعي ډول سره ځان ځانته ټولنې کوي - چه په دې ترتیب د هر ګوند له خوا یوه مخصوصه ټولنه جوړیږي او د دغو دوو مجلسونو له خوا چه د کنوانسیان په نومونو یاد یږي یو - یو کاندید د جمهوري د ریاست د څوکۍ د پاره ټاکل کیږي.

کوم کاندید چه د جمهوري ریاست د څوکۍ د پاره ټاکل کیږي لازمه ده چه عمر یې (۳۵) کلو ته رسیدلی وي او د امریکې په ملیت کښې یې څوارلس کاله تیر شوي وي د امریکې په اساسي قانون کښې کوم بل شرط د ریاست د څوکۍ د کاندید د ټاکلو د پاره نه دي راغلي مګر بیا هم د امریکې تعامل په دې باره کښې دا دي چه که

کاندید دپرو ټسټا نټ مذهب واری نوښه به وی. مگر دجان کینیډی انتخابیدل دجمهوری دریاست دڅو کی دپاره او بیا دامریکې دجمهوری رئیس په حیث دده بری دامعمول له مینځه وایست- ځکه دی دکاتولیك ددین پیرو دی — وروسته له هغه چه د کنوانسیونو نوله خوا چه ددوی غړو ته پرزی دانسیل (Presidential) نمایندگان هم ویل کیږی کاندیدان وټاکل شول نو دامریکې دټولو خلکو له خوا (هغه خلك چه قانونی سن ته رسیدلی وی) دجمهوری ریاست کاندیدانو ته په مستقیم ډول رایې ور کول کیږی چه په نتیجه کښې هغه کاندید کوم چه اکثریت یې لاس ته راوستی وی- دامریکې دجمهور رئیس په حیث ټاکل کیږی او داستره وظیفه دڅلورو کلو دپاره سرته رسوی دامریکې جمهوری رئیسان ددوهم ځل لپاره هم انتخابیدای شی.

خو کله چه په تیرو کلو نو کښې دامریکې خلکو وغوښتل چه ددریم ځل دپاره خپل محبوب جمهور رئیس (جارج واشنگټن) انتخاب کړی- هغه داوظیفه ونه منله- مگر روزولټ ددریم ځل دپاره هم دامریکې دجمهور رئیس په حیث خپله وظیفه سرته ورسوله

دامریکې دجمهور رئیس صلاحیتونه ،

ددې په حقله چه دامریکې جمهور رئیس برسیره پر دې چه ددولت درئیس په حیث پیژندل کیږی دحکومت صدر هم دی- او دحکومت ټولې واگې دده په لاس کښې وی- نو دلوی قدرت خاوند گڼل کیږی- او له همدې کبله چه دامریکې جمهور رئیس دامریکې داجرائیې قوې صدر هم وی- نو داصولنامې (Executiveorder) دوضع کولو اختیارات هم لری.

دامریکې جمهوری رئیس که څه هم دلویو مأمورینو دانتخابولو په وخت کښې مجبور دی چه دسناد مجلس موافقه واخلی بیا هم دمامورینو په انتخاب او مخصوصاً دلویو اووړ ومأمورینو دبرطرفی په برخه کښې لوی لاس لری. له دې نه علاوه دامریکې دخارجی سیاست دټاکلو- دسیاسی خبرو اترو او مباحثو په هکله سره ددې چه په دې برخو کښې دسنا مجلس هم خپل رول لوبوی دامریکې رئیس کافی صلاحیت لری. دامریکې جمهور رئیس دامریکې دټولو عسکری قواو دصدر په حیث پیژندل شوی دی نو له دې کبله په امریکې کښې دنظامی پلانونو په تعمیل او وړاندې بیولو کښې دامریکې دجمهور رئیس نظریه قاطع ده . او دامریکې جمهور رئیس په دې برخه کښې غټ تصمیمونه نیسی - لکه دهیډرو جن دبمب جوړولو کار- او دامریکې دلښکر ولیږل کوریاته دکوریا دجنگونو په موقع کښې چه دامریکې دجمهوری رئیس په مستقیمه اراده تر اجراء لاندې ونیول شول .

دامریکې به اساسی قانون نامې کښې لیکل شوی دی چه دجگړې اعلان دامریکې دکانگرس یواځینی صلاحیت دی. مگر دکوریا

په جګړو وکښې د امریکې د عسکرو ګډون دهغه هیواد دجمهوری رئیس په مستقیمې پریکړې بوري ونیول شو.

دجنګ او جګړو په وخت کښې دامریکې جمهوری رئیس کولای شی چه هغه اموال او خلك چه دملی دفاع دپاره یې ضبط او حبس ضروری وی- ضبط او بندکړی. او هم دامریکې جمهور رئیس ته په هرحال کښې دعفوې حق ورکړی شوی دی.

دامریکې دجمهور رئیس ټولو همکارانو ته چه له ده سره مرستې کوی ددولت سکرټران ویلی شی چه د کابینې دغړو څخه عبارت وی. داو زیران دجمهور رئیس له خواتا کل کیږی مګر په استثنایی صورت کښې دسنا مجلس هم په دې برخه کښې جمهور رئیس ته سلامشوره ورکوی- د کابینې غړی دجمهور رئیس دارامرو په سرته رسولو مجبوردی او پخپله جمهور رئیس ته مسئولیت لری او دهغه دټولو نظریو په پیروی او اطاعت مکلف دی. دمثال په ډول هغه وخت چه دا برا هیم لینکن اودده دسکرټرانو (وزیرانو) په مینځ کښې پر کومې موضوع باندې شخړه پیداشوې وه - نودده راءیه که څه هم په اقلیت کښې وه په آخر کښې معتبره وګڼل شوه - دی په دې حقله وایی « اوه (۷) راء یې موافقې وې - یوه راء یه مخالفه وه یا هم دایوه راءیه زور وره شوه).

که څه هم دامریکې داساسی قانون په متن کښې په څرګندو الفاظو کښې دقواو په مینځ کښې جلاوالی کیږی - مګر بیا هم په دې برخه کښې په تیره بیا داجرا ئیی او مقننې دقواو په مینځ کښې لږاو ډیر استثناآت لیدل کیږی.

د امریکې جمهور رئیس کله چه غواړی د کانګرس پریکړې ونه منی د ویټو څخه کار اخلی. او کله چه دامریکې جمهور رئیس په یوې موضوع باندې ویټوو کړی او کانګرس هم دهغې په هکله موافقه ونه لری - بلکه دهغې دماتې هیله ولری - نو لازمه ده چه دهر مجلس نمایندګان ځان - ځانته دویټو ماتولو دپاره ۲ پر ۳ موافقې رأیې ورکړی روزولټ دامریکې یو پخوانی جمهور رئیس (۶۳۱) ویټو ګانې وکړی. چه دهغو له جملې څخه یې یوازې لس ویټو ګانې بیرته ورماتې شوی.

له بلې خوا دامریکې جمهور رئیس کله کله دقانون پروژې هم کانګرس ته ورو ړاندې کوی او دهغو دوضعې کولو دفاع په مستقیم ډول یا دخپلو طرفدارانو په ذریعه کوی. په مستقیم ډول سره دامریکې دجمهور رئیس دقانون په تدوین کښې دا سې برخه اخلی چه دامریکې داساسی قانون له مخې په کال کښې یوځل کانګرس ته یو پیغام (Message) لیږی

اوورسره ورسره دقانون خو پروژې هم کانګرس ته استوی .

له (۱۹۲۱) عیسوی کال نه راپه دې خوا دا مریکې جمهوررئیس د امریکې فدرالی دولت بود جه هم دبود جې د دفتر په مرسته کانګرس ته وړاندې کوی .

په امریکې کښې دقضایې قدرت موضوع دا سې ده چه د رې محکمې ( ابتدائیه مرافعه اوعالی دیوان) ایدلی کیږی .

په نور و رژیمونو کښې قضائی قدرت په برخه کښې دریمه محکمه دتمییز محکمه نومیږی اووظیفه یې داوی چه دابتدایې اومرافعې په پریکړو کښې یوازې د قانون تطبیق غواړی او که قوانین په کښې تطبیق شوی نه وی نودا پریکړې بیرته ماتوی او مستردوی یې . مګردامریکې په قضائی قوه کښې عالی دیوان نه یوازې دقوانینو ترسره کول په فیصلوکښې لټوی بلکه په پیښو او قضایاو کښې هم توجهٔ او پاملرنه کوی .

دعالی دیوان دمحکمې غړی (۹) تنه وی اودا غړی دجمهوررئیس له خواتا کل کیږی او داقاضیان دخپل ژوند ترپایه پورې دغه وظیفه سرته رسوی - دعالی دیوان صدر (چیف جسټس) (Cheif Justice) نومیږی او دامریکې په دولت کښې ترجمهوررئیس وروسته دوهم شخصیت دی .

﴿ پای ﴾

دهیواد له بیلو بیلو سیموڅخه

عبد المنان «ملګری»

# «په لغمان ګښې تیر شوی پوهان»

البته ګرانو لوستونکو به د ۳۸ کال د کابل محلي په (۸) ګڼه کښې د «لغمان و پیژنی» ترعنوان لاندې یوه مقاله لوستلی وی او ددې سیمې به کیفیت او خصوصیت باندې به پوه شوی وی، له دې کبله زه نه غواړم چه په خپل دغه بحث کښې دنوموړی علاقې په باب جغرافیایی معلومات وړاندې کړم ځکه چه د از مونږ له بحثه وتلې موضوع ده او علاوه په دې د ایوه اوږده موقع او ژوره پلټنه غواړی، مګر اوس صرف غواړم چه مخ کښې له دینه چه په خپل مقصد لاس پورې کړم د دغې سیمې هغه تاریخی خصوصیت کوم چه دهغې په برخه کښې لږ او ډیر معلومات مونږ ته په لاس راغلی ښا غلو لوستونکو ته څرګند کړم:

**لغمان دتاریخ او تاریخ پوهانو په نظر کښې:**

لمپا کا «لغمان» دنورستان جنوب ته دد وه غیر مساوی کرښو په شکل پروت دی دغه کرښې شمال او شمال غرب خواته میلان او امتداد لری چه د «الیشنګ» او «الینګار» په نامه یادیږی چه بیا دغه درې دسلطان غازی بابا او قلعة السراج کښې سره یوځای کیږی بلکې دلغمان لوی حکومت چه دقلعة السراج جنوب ته واقع دی ددغود رودا تکاء نقطه ګڼل کیږی لغمان چه په تاریخ کښې په لمپا کایا د شوی او د لمقان نسبت هم و ر ته شوی دتاریخ پوهانو له نظره پټ ندی پاتې بلکې هر یو پخپل وار دغې سیمې ته راغلی او کیندنې یې په کښې کړی دی چه له د غوډ لوڅخه یوتن چینائی مشهور سیاح دی چه (هونستن) نومیږي.

هونستن په (۳۶۰م) کښې دبودائی مرکزو د لید او لپاره افغانستان ته راغلی و چه دځینو ځایو د لید لو په لړ کښې یې لغمان هم و لید او کیندنې یې په کښې و کړې چه وروسته له دغه پوهاند ځحه ډیر فرانسوی سیاخان د دغه غرض لپاره لغمان ته راغلل.

د اسې ښکاری چه (موسیو ګودار) او (موسیو برتو) فرانسوی علما چه لومړنی په (۱۹۲۳) او ورو ستنی په (۱۹۲۵) کال چه د تحقیقاتو او پلټنې په غرض افغانستان ته راغلی وو، ورسته له «هډې» څخه یې لمپا کا کښې هم دغه سلسله جاري وساتله چه په دغه ځای کښې نوموړو پوهانو د «برهمنی» ددین ډیر غوره اولر غونی آثار موندلی دی.

**لرغونی لغمانیان :**

ر ښتیا خبره داده چه زه د لغمانیانو په هلکه په ز غرده نشم غبزیدای چه آیا لرغونـــی لغمانیان څوك او په کومه ژبه ګړیدل ؟

ددې پو ښتنې ځواب تر او سه ز مونږ په نزد مجهول دی ځکه چه په دغه باب کښې کوم د قناعت وړ سند په لاس نه لرو مګر دهغو پلټنو او تحقیقاتو له مخې چه تاریخ پوهانو کړې دی دا جو تیږی چه په لغمان کښې د (دادیک-تاجك) څخه ړومبی پښتانه میشته و ځکه کوم وخت چه فرانسوی عالم (موسیو فوشه) د ګندهار یانو د لرغونو ښار ونو مونه اخلی په دې ضمن کښې وایی چه «د ګندهار یانو د رې نور ښار ونه په لمپا کښې شته دی، چه په (مندروړ-چار باغ-تګری) باندې یادیږی»(۱)

د «موسیو فوشه» له وینا څخه دامعلومیږی چه لغمان لا له پخوا زمانې څخه د ګندهار یانو ځای و.

بل ځای کښې یو فرانسوی عالم د (دادیك) نوم اخلی او وایی چه (دادیك د ګند ها ریانو شمال ته یوه طایفه وه چه بیاد ګندهار یانو له خوا او لیږ د ول شوه چه ددغه مهاجرت او تګ څخه ځینی یې په خپله ګندهاریانو کښې خلط شول چه لمپا کا ته هم دغه رخت د وی تللی دی.

(۱) د ۱۳۱۰ کال کابل مجله

پو ر تنی نظریه مونږه د اسې تلقی کولای شو چه لغمان کښې ړ و مبی ګند ها ر یا ن میشته و و او بیا وروسته دا دیکان هم له دوی سره متو طن شو ل .

چه اوس لغمانیان دغه ټو لنې ته د «دیکان» نسبت کو ی .

هر کله چه د غه بحث یو فیلا لو جیکی بحث دی او ځماله وسې څخه نه ده پوره په همدې ځای کښې یې پر یږ دم او خپل اصلی مطلب ته را ګر ځم.

**په لغمان کښې تیر شوی پوهان:**

په دغه او به لر ونکې خاوره کښې ډیر علما او شاعران تیر شوی چه د ځینو په بر خه کښې معلومات لاس ته راغلی او ځینې نوریې لکه لعلو نه په ایرو کښی تر او سه پټ پاتې دی. چه دادب له مخې دهغوی دهویت راایستل او معلومولیې یوه لویه او پیا وړې وظیفه ده.

په لغما ن کښې لکه د نورو پښتنې خاورو په شان یوه علماو ملی شا عران تیرشو ی د ی چه په خپل عصر او خپل وخت کښې دلوړ نوم او شهرت خاوندان وو چه ددغو ډلو څخه ځینې یې په لاندې ډ و ل ښا غلو لو ستونـکو تـه معرفی کو و .

**مولانا مرحوم محمد عصام:**

دغه پیاوړی یو هاند دلغمان دلو یو پوهانو څخه دی نو موړی د شر قی ا سلا می علو مو

یو باخبره عالم و او د شرحی و قایې په کتاب یې یوه مستقله حاشیه لیکلې ده چه تر اوسه به طبع شوی نه وی دده قلمی نسخې د هغه ځای په اوسید و نکو کښې مشهورې او مروجې دی.

دنو موړی د ځیبزید و ځای د لغمان په کجورو کښې دی. دی په خټه دلغمان له نیازیو څخه وده تقریبا (۶۸) یا (۷۰) کاله عمر خوړلی دی او په (۹۰۰ھ) کال کښې وفات او د کجورو په هدیره کښې ښخ کړ شوی دی.

**۳ مرحوم مولینا عبدالمطلب**

نوموړی ددغې سیمې دمشهورو او پیاوړو استادانو څخه ګڼل کیږی ده دلومړی ځل له پاره خپلی ستر ګې دلغمان په جهار باغ نومی کلی کښې پرانیتلی دی د (۵۷) کلو عمر خاوندو ده له دې دنیا څخه په (۱۱۹۵) کال کښې لاس واخیست دده علمی شهرت لکه د یولمر په شان ښکاره و خصوصاً په الهیاتو کښې د پوره لاس خاوند و دده پوهې او زیرکۍ دی یو اځې په عوامونه و پیژندلی بلکې د شاهانو په زړه کښې هم ننوتی و

نومونوړی د اعلیحضرت تیمور معاصر او د خپل وخت اه لو یو علماو څخه ګڼل شوی دی اعلیحضرت تیمور شاه ده ته صدر علما لقب ورکړی وچه صدر په عربی کښې سینې (زړه) ته وایې دغه پیاوړی ته له ذکر شوی علم څخه په تصوف کښې هم دلو یې برخې خاوند وده پر علم تلویج چه د علم اصول مبنی ده حاشیی لیکلی دی چه دغه حاشیې د میراث په توګه مولوی عبدالقدیر خان پورې رسیدلی دی چه ښایې تر اوسه طبع شوی نه وی

**فاضل ملا محمد عمر:**

دغه مرحوم په خټه (اسحق زی) دی ده لومړی خپلې ستر ګې دلغمان په دنده کښې پرانیتی دی، نوموړی ښاغلی ددوه نوی کالو عمر خوړلو څخه وروسته بیا په (۱۲۰۵) کال په کابل کښې د اجل نښه وګرځید دده فاضل مقبره لکه چه معلومه ده د کابل په خواجه رواش کښې ده دغه پیاوړی د خپل وخت د خورا مشهورو علما څخه وو او ده پر شرقی علومو باندې پوره احاطه درلوده ددغه پیاوړی یو درونداو په زړه پورې خصوصیت داو چه خپل ټولې نوټې او قلمی نسخې یې په خپلی ملی او مورنۍ ژبې (پښتو) باندی لیکلی چه ددغو جملو څخه د (علم تجوید) کتاب هم په دغو صفاتو لیکل شوې چه د چاپ پته یې تر اوسه نه ده څرګنده شوی.

**۴ مرحوم عبدالحکیم اخنذاده:**

تر اوسه پورې مونږ ته د نوموړی د ځیبزیدو نېټه پوره نه ده معلومه منګر دومره ویلی شو چه نوموړی په (۱۲۷۴ھ) کال کښې له دارالفنا څخه دارالبقا ته تللی دی او هم دغه مرحوم د (۶۵) کلو سړی و.

دی هم په خپل وخت کښې دلو یو علماو په ډله کښې و درولی شو.

ده په (قاضی سلم) او شمسی باندې پوره او کره حاشیې لیکلی دی البته چه تر اوسه به چاپ شوې نه وی. دی په پور تنی کال کښې په خپل کلی (دنده) کښې وفات او په همدغه ځای کښې دفن شو.

**۵- مرحوم مولوی سلطان محمد اخنداده:**

دغه محترم اصلی تاتوبی پوره نه دی خر گند چه آبادی دلغمان د کوم کلی او کومی درې څخه و مگر دومره جوته ده چه دده زیارت د مرحوم فاضل مولانا عبد الکریم ملقب په (میان صاحب) کښې دی.

ده هم ډېرې رسالې او حاشیې لیکلی چه متأسفانه یوه یې هم نه ده چاپ شوې د دغو رسالو څخه یو مشهوره رساله د مولانا جامی د شرح حال حاشیې ده.

ده خپل (٦٥) کاله عمر د علم او تدریس په لیاره کښې وقف کړ او په پای کښې په (۱۲۵۸) کال کښې وفات او د لغمان د میان صاحب هدیرې ته نژدې دفن شوی دی.

**٦- ملا گل اخنداده:**

دده علمی شهرت خور اوپردی د مرحوم مسعود اخنداده له مریدانو څخه دی دغه نوموړی په (متون بیضاوی) او پر شرح ملا حاشیې لیکلی چه چاپ شوی نه دی دغه حاشیې مولوی عبدالقدیر خان سره موجودې وې دده مدفن چار باغ دی.

**۷- مرحوم عبدالسلام اخنداده:**

دی هم لکه د نورو علماو په شان خورا صادق او د تألیفاتو خاوند و په (شرح وقایه) او (عیسی) باندې یې حاشیې لیکلی مگر د طبع موقع یې لاس ته نه ده ورغلی دده د مړینې نېټه (۱۲۹۸) کال او مدفن یې چهار باغ دی..

**۸- مرحوم ملا راشکوه اخنداده:**

نوموړی په منطق او الهیاتو کښې د تألیف خاوند و په (میرزاهد) باندې یې لویه او مستقله حاشیه لیکلی چه طبع شوې لا نه ده دده د خیبز یدو ځای د لغمان دنده، د (٦٧) عمر خاوند په خته اسحق زی او په (۱۲۵٦) کال کښې وفات او د خپل کلی په هدیره کښې ښخ شوی دی.

(پای)

لیکونکي : محمد صدیق روهی

# معیاری پښتو

یوه ورځ زما اشناء دیوې ورځپاڼې په مطالعه بوخت و . دورځپاڼې یوه ترکیب ته یې گوته ونیوله او په داسې حال کښې لکه چه یولوی کشف یې په برخه شوی وی ماته یې وویل : «وگوره! دا ترکیب څو مره غلط لیکل شوی دی . موږ باید (په مځکه کښې) ونه لیکو ځکه چه د مځکې صحیح شکل ځمکه ده چه په سنسکریت کښې جماکاورته ویل کیږی او د دې لفظ د مخه هم (په) عامل دی باید (په ځمکه کښې) و ویل شی . همدارنگه ( کې ) هم باید ( کښې ) ولیکو . نو درسته بڼه به یې (په ځمکې کښې) وی . »

زما اشناء د دې توضیح په ترڅ کښې له خپل دځانه ډیر راضی او خوشحاله شکاره کیده . ما په داسې حال کښې چه د خپل اشنا خبرې تردید نه کړی یو اځې دومره مې ورته وویل چه «په دې برخه کښې ځینی خبرې شته » منم چه زما د اشنا خبرې په اصطلاح « کتابې خبرې » وې او په دې مقاله کښې زه غواړم چه په همدغه کتابی خبرو باندې وغږیږم :

زموږ دا کثرو ځوانانو او پوهانو دا عادت دی چه دیوه لغت د معنی د پیدا کولو د پاره قاموسونه او د شاعرانو دیوانونه گوری، د یوه ترکیب یا جملې د صحت او غلت د معلومولو د پاره گرامرته رجوع کوی او هغه څه چه په دې کتابو کښې لیکل شوی وی ده کاڼی کرښه، بولی لیکن دوی له یوه لوی مرجع او سند څخه سترگې پټوی چه هغه «خلك» دی . دلته له «خلکو» څخه مراد هغه وکړی یا طبقې دی چه دیوې ټولنې په سلو کښې او یا له دې څخه هم زیاته برخه نفوس له دوې څخه تشکیل شوې ده . همدغه خلك دی چه ژبه یې جوړه کړې ده او همدغه خلك دی بیا . وروسته ژبې ته تغیرور کوی . موږ هیڅکله له دوی څخه سترگې نشو پټوالای بلکه زما په عقیده «خلك» اصل او اساس گڼل کیږی . دلته به ځینی کسان د اعتراض په ډول راته ووایی چه ته پر «تحصیل حاصل» باندی خبرې کوې . بمگر رښتیا خبره دا ده چه د دې مفکورې په رڼا کښې موږ ډیر حقائق لاس ته راوستلی شو د مثال په ډول یو څو موده مخکښې ځینې پښتانه لیکوال او ادیبان سره راټول شول چه د پښتو د لیك دود دیوالی په غرض یې ځینې پریکړې وکړې موږ په خپل وار دې هڅې ته په ښه سترگه گورو، لیکن دا پرې کړې هغه وخت اعتبار پیدا کولی شی چه پر یوه سم او صحیح معیار باندې بناشووی موږ باید دغه صحیح معیار ولټوو او د هغې پر ابنسټ دلیك دود مسأله هم حل او فصل کړو . د دې معیار پیدا کولو ډیر وخت او ډیرې ستونزې غواړی . زما په نظر د دې پرځای چه څو تنه لیکوال

سره کښینی اودژ پوهنې یاد استدلال له لارې دلیك دود په مسأله کښی ځینی پریکړې و کړی ښه به داوی چه هغه څوتنه په ولس کښی و ګرځی مختلفې لهجې او بېل بېل اصلاحات سره پر تله کړی او بیا د دغو څېړنو له مخې نتجې لاس ته راوړی قاموسونه ګرامرونه، اکاډیمی، لیکونکی او شاعران دا صلاحیت نه لری چه ټولنې ژبی ته تغیرور کړی او یا اصلاحات پکښی شروع کړی . د دوی وظیفه د اده چه د خلکو ژبه فلکور، دودونه او په عمومی ډول د خپل ولس کلچر منعکس کړی قاموس باید یو لغت په داسې ډول تشریح کړی لکه څنګه چه د خلکو له خوا په کومه معنی استعمالیږی . ګرامر باید هغه قواعد راټول او تنظیم کړی چه په ټولنه کښی مروج وی . اکاډیمۍ ښایی چه د یوه ولسی ثقافت و پلټی او لیکونکی یا شاعران باید خپل افکار او تأثرات د خلکو په ژبه و خلکو ته تمثیل کړی .

ژبه یو اجتماعی تړون او د زمان او مکان محصول بلل کیږی . ژبه هم د فزیکی فنومنونو په څیر په زمان او مکان کښی تغیر کوی او دا تغیر و نه هم اتفاقی او تصادفی نه دی بلکه ځانته اسباب او عوامل لری . لکه څنګه د تاریخ مسیر څوك په زور نشی ګرځولی همدغسې د ژبې تغیر او جریان هم حتمی او جبری دی : زموږ هڅې او کوششونه په دې برخه کښی ډیره لږه اغیزه لری که نن ورځ موږ یوې کلمې ته محض د دې لپاره چه د دې بلې په نسبت لرغونۍ ده ترجیح ورکوو د اکار زموږ پر محافظه کارۍ باندې دلالت کوی او غواړو چه په دې وسیله د ساعت متنې بیرته وګرځوو .

ژبه پر خپل حال پریږدۍ ! اما د اخبره د دې معنی نه لری چه موږ د دې د ژبې په برخه کښې څیړنې او پلټنې نه کوو . موږ باید زیار و باسو چه د پښتو یوه حقیقی معیاری لهجه لاس ته راولو . د معیاری پښتو لاس ته راوستل پوره څیړنه او کتنه غواړی . د معیاری لهجې څخه مقصد دا نه دی چه یوازې همدغه لهجه صحیح او نور غلطې دی بلکه د هغې په وسیله به موږ یو او بل په ښه توکه و پوهولی شو او خپل ځانونه به له تشتت او ګډوډۍ نه وژغورو . معیاری لهجه به زموږ د پوهنې او روزنې سره هم پوره مرسته وکړی او زمونږ قاموسونه او لیکنې به هم نسبةً عمومی اعتبار ولری موږ ټول په دې پوهیږو چه لرغونې پښتو کومه چه د اوسنیو محلی لهجو مورده ډیره پخوا مړه شوې ده موږ هغه خوږه مور بیرته نشو راژوندۍ کولی . د دې پر ځای باید د خویند و لهجو په مینځ کښې یوه مشره لهجه وټاکله شی چه د ټولو وړاندې معتبره وی .

د ژب ښوونې ماهرانو زیار ایستلی دی چه د دې پوښتنې د حل لاره پیدا کړی ډاکټر هانری لی سمیت

او جورج ټراگر د د د اسې مسائلو د حل کولو دپاره یو فارمول وضع کړی دی چه موږ هغه فارمول په پښتو کښې تطبیقولی شو. دمثال په ډول په پښتو کښې د(ځم) او (درومم) کلمې دواړه مستعملې دی که یو څیړونکی وغواړې چه له دې دوو کلمو څخه معیاری بڼه په لاس راوړی، دی باید د هیواد په د و وسیمو کښې داسې پلټنه وکړی:

لومړی حالت (یوه سیمه):

زه ځم (هرڅوك ئې استعمالوی)

زه درومم (دخلکو توجه ځان ته راگرځوی)

دوهم حالت (دوهمه سیمه):

زه ځم (هرڅوك ئې استعمالوی)

زه درومم (هرڅوك ئی استعمالوی)

په نتیجه کښې ویلې شو چه د(ځم) کلمه د لومړۍ او دوهمې سیمې د پاره یوه معیاری کلمه ده او کلمه چه موږ د دغو دوو سیمو د پاره خپرونې کوو باید د(درومم) پر ځای (ځم) چه یو معیاری بڼه ده استعمال کړای شی. په همدې ترتیب موږ یو مفصل لست جوړولی شو او د یوی گړنۍ ټولنې (Speech Community) ټولو سیمو ته ورځو. هغه کلمې، ترکیبونه، جملې او اصطلاحات چه په اکثر وسیمو کښې استعمالیږی دمعیاری لهجې په حیث ټاکو. په رښتیا چه د دې کار ترسوه کول لږ څه ستونزه او وخت غواړی زه هیله لرم چه پښتو ټولنه به دا کار خپله وظیفه وگڼی! او په دې وسیله به پښتو ژبې ته یو ستر خدمت وکړی.

رومن رولان ته

دما کزم گور کی لیك

له انگریزی نه پښتو کو ونکی

محمدحسن کاکړ

# کرانه ملګریه

د(سر ګې یه سینین) په ډرامه کښې د کرکټر ترسیم په ډېره ښه توګه شوی دی.

دادیوه کلیوال زلمی ډرامه ده - ډیره رومانتیك او غنایی ده. هلکی په خپل کښت او ځنګله د خپل ملك په اسمان - او په ګلانو او څارویومین دی دی ښار ته ځی چه خلق په خپله هغه لیونۍ مینه خبر کړی چه دی یې له خپل ساده ژوند او دهغه له طبیعی ښکلا سره لری. مادی له ښار سره داشنایی په لومړنیو شېبو کښې ولیده. دنګه ونه - ښکلې څیره.. او تاوتاو ویښتان یې وو - کالی یې هغسې ولکه (وین یا) په تزارد (دپاره ژوند) کښې. سترګې یې خړې او تنډه یې خوږ او خندانه وه لکه (لوهن ګرین) ښار داسې تود هر کلی ورته ووایه - لکه یو حریص چه په جنوری کښې وحشی شاه توت ته ګوری نغمویې د خوښۍ او سرور ناري جلب کړې خوزښته ډیرې او بې اخلاصه ځکه چه هغه له حسودانو او ټګانو نه پورته شوې.

دانو بس هغه مهال دی چه دعمر اتلس پسرلی پرې تیر شوی دی.

په شل کلنې کښې یې دډنډیو کجاوه خولۍ دګاړ ګوتې و یښتانو د پاسه ایښې او دیوه شیرینی پزد مرستیال په څېره ګر ځېدلی دی. انډیوالانو یې په شرابو واړوه او ښځو یې شیره ترې وزبیښله.

دی ډیر زر په دې پوه شو چه ښار دده محکومیت او زبونی ته پښې لوڅې کړی دی. نو دزړه وینې یې دشعر په جامه کښې ونغښتې او دا خبره یې په کښې یاده کړه. که څه هم دی همغسې غنایی او عشقی شاعر پاته شو - خو یو آواره او سریله انسان ترې جوړ شوی و. ګومان کوم چه دا حال ده ته له خواشینۍ او محکومیت نه پیدا شوی و.

بله دا چه ده غوښتل له ښار څخه خپل انتقام واخلی زما په فکر چه له هغې په عمر زیاتې ښځې (ایسا ډورا ډنکن) سره دده دبخت او خوښی ځا له ګډه وډه او په بل مخ شوه. په یوه تأثر نه ډك شعر کښې د هغې یادونه داسې کوی:

په دې ښځې کښې مې د سعادت لټون وکړ
خو یوازې خپل محکومیت مې په کښې بیاموند
زه هیڅ نه پوهیدم چه مینه زهر دی
زه هیڅ نه پوهیدم چه مینه و باده
هغې په تنګو سترګو و تلملم او سریله
لیونی یې وګرزولم د هغه
انتحار دستې ارادې نتیجه نه وه - بلکه دهغه
دټینګ او ښکاره عزم نښه وه چه غوښتل یې

ښار پر ښېږدی او تري ووځي. هغه ځان غرغره نه کړ- بلکه ځان يې به رسۍ کلك وتاړه چه دپيپ له سرو او بونه يې تيره کړی وه. په دا سې حال کښې چه به غولې ولاړو - غاړې ته يې زندۍ واچوله اودومره يې را کښو ده- چه اخريې کارورته و کړ پخواله دې چه دې کارته اقدام و کړی دیوه لاس بندې پر يکړاو به خپله سرو وينو يې اته شعرونه ولیکل چه يو بندې دادی:

مرگ زمونږ به ژوند کښې څه نوی شی نه دی
خو ژوندهم بل څه نه و يته وب نه اوری

اودهغه څه چه په لنډه توگه مې د (يه سينين) په باب درته ولیکل. درو سی لیکوا لو ژوند دپرامې له حيثه ډېرغنی دې- اود (يه سينين) پرامه تر ټولو پهغم اړلې اوخپه کوونکی ده نن سهارد (ډنکن) په باب دهغه ټول شعرونه را ورسيدل. اريان در يان يې کړ م.

گرانه ورورهاددغسې ترخه ليك به استولو کښې له تانه ببنه غواړم او به ټولزړه در ته سلام کوم.

ليکونکی: لوسون

ژباړونکی: زروهی

## دسپې خواب

خوب مې ليده چه يوه نری لاربانديې قدم وهم، کالی مې دیوه گدا به څېرزاړه او شکيدلی وو. يوه سپی ترشا را پسی وغبل.

ما دحقارت په نظر سپی ته مخ ور واړاوه او غبزمې بريو کړ:

«واه اوشر ميږه! ته دا ايانو ته لکۍ به ډاگ ډاگ وهې او خوارانو ته آزار ورسوې.»

ده راته داستهزاء په توگه وخندل.

«ډېر وبښه، ده وويل، موږ د انسانانو په څېر دومره ښه مخلوق نه يو.»

په دا سې حال کښې چه ما داخبره دځان دپاره لويه بې حرمتی او کنځا گڼله ورته ومې ويل چه «څه وائې!»

ده وويل «زه په دې خبره باندې شرميږم که ووايم چه زه لاتراوسه د مسو او سپينو زرو، د ريښمو او خامتا، دمامورا وعامی سړی دبادارانو او غلامانو ترمنځ توپير او تمييز نه شم کولای.»

مامخ پرته راواړاوه او تري و تښتيدم.

«لږ صبر و کړه! پر ښېږده چه يو څو نوري خبرې هم درته وکړم.»

ده د شاله خوا په جگ آواز ماپسې ناري کولې چه درته و د ريږ م.

ليکن زه مخامخ په ډېره چټکۍ تري و تښتيدم تر څو چه له خوبه را ويښ شوم او خپل ځان مې دخوب پر بستر بيامو ند.


ادبی

## داوښکو لاله زار

ستر ګو کښې ډنډې هر سهار اوښکې
یارته مې کاږی انتظار اوښکې
اسمان مې اوښکو سره بیا وژړل
خو تاثیر نه کا په نګار اوښکې
دزړه اعلو نه شول ارزان خدایږو
نه لری چیرې خریدار اوښکې
چه اوس مې نه کوی پرواد اوښکو
څه که کړی توی مې په مزار اوښکې
وایی عالم ته راز د پټې مینې
نه خوښوی مې ځکه یار اوښکې
نه ږدی له خیاله یې وخواته قدم
څه که سمسور کړی لاله زار اوښکې
دمینې لاس چه پاکې کړی نه دی
خود به مایوسې وی د «زیار» اوښکې

عبدالله بختانی

# واوره

شاعرد پسرلی گلونه ستایې په غزل کښې
له ماځینې دژمی سپینوو اورونه څه واوره

بهار د تازگیو ، نازکیو سره تېر شو
کاروان درنگ وبوی او دښکلا راځنې هېرشو
دگل او دبلبل اوس نه خند اشته نه ژړا شته
نه باغ کښې رنگینی شته نه بلبلې نه بوراشته
لغړې شو لې و نې چه تازه وې په بهار
ځواب وایی کابل دتاوده هاړ دننگرهار

ساړه بادونه لگی دگرمیو په بدل کښې
شاعر دپسرلی گلونه ستایی په غزل کښې
د خټو د کوڅونه او د لارونه څه واوره
له ماځنی دژمی سپینوو اورونه څه واوره

په دا سپینه څله کښې سپینې واورې راور ېږی
له کوره چه بهرشی له یخنۍ ځنې لړ زېږی
چه اوروی لگېدلی بخارۍ کښې څه سوداده ؟
چه غرق څوك ترغوږ ووی سندلۍ کښې څه پرواده ؟
پلا وچلا و تیار وی ورسره د لاندی غوښه
مالټه اوسنتره ، وچه مېوه د هر چا خوښه

خوندونه به ترې اخلی چه نېکمرغه وی ازل کښې
شاعر د پسرلی گلونه ستایی په غزل کښې
چه برخه یې وی خواره دنادارونه څه واوره
له ماځنی دژمی سپینو واورونه څه واوره

خوند اخلی تماشه کښې چه دواورو منظر گوری
چه ناست وی په بنگله کښې اوښیښونه بهر گوری
هغونه دې تپوس کړی چه څه وایی په زاری کښې
چه گرځی څوك دباندی غریبی او مزدوری کښې
د ژمی شپې تېر ېږی په سړو سړو آهو نو
د واورې مقابل کښې په ایرو د حمامونو
داهم دخدای بنده دی چه گیرشوی په څه چل کښې
شاعر د پسرلی گلونه ستایې په غزل کښې
ما لداره! د وطن له دغو خوارونه څه واوره
له ما ځنې د ژمی سپینو واورونه څه واوره

یتیم دی، بینوادی، خدای وهلې، بخت رټلی
بد بخته، نامراده، غم زپلی او نتلی
هغه بل مسافر چه په کوڅو کښې سرگردان دی
نه ځای او نه اشنا لری ددرست خلکو مهمان دی
په دغو سپینو واورو کښې ولاړ په سپین میدان دی
پیسې یې جېب کښې نشته ډېر حیران او ډېر پرېشان دی
د داسې غریبانو څه شك نشته په اجل کښې
شاعر د پسرلی گلونه ستایې په غزل کښې
چاره یې که کوی شې له ناچارونه څه واوره
له ما ځنې د ژمی سپینو واورونه څه واوره

که واوره که باران دی وایی دادخدای رحمت دی
افسوس دی چه دخدای په بندگانو څه زحمت دی
که واوره ډېره وشی پسرلی به گلالی شی
ارمان! دځینو وسه کښې، نه او راونه کالی شی
منم، واوره سپین زردی، چه اسره نه وی نو څه
بازار که په ټنگه شی، چه ټنگه نه وی نو څه؟

د وا و رو زوراو به شی د زرد اړو په محل کښې
شاعر د پسرلی گلونـه ستا یـی پـه غز ل کښې
بې زره د ې کا بل وی له زر دا رو نه څه واوره
بې واورې دې کابل نه شی له واورونه څه واوره

بیشکه چه خوند ونه اونیشی به وی شراب کښې
گرمی اوکا لوری اوانرژی به وی کباب کښې
مطرب د زمانې دا غبز و له په رباب کښې
که فکردې روښان وې فکرو کړه په دې باب کښې
د وږوله عذاب نه به ماړه شی په عذاب کښې
دیو غړی له درد سره وجود شی اضطراب کښې

هوس دغومره بس دی یو څه ځیرشه خپل عمل کښې
شاعر د پسر لی گلو نه ستا یې په غز ل کښې
د لوڅوا و بېو ز لوله اسرا ر و نـه څـه وا و ره
له ما ځنې د ژمی سپینو وا ورو نه څه وا و ره

له صفر نه که ټیټې د رجې د حرا ر ت شـی
وطن کښې که دوا ورو اوسېلیو جوړ قیامت شی
پروا نشته که زړونو کښې موبل د مینې اوروی
دمات زړه دتسل اودلداری موزړه کښې زوروی
فرق نه کوی کا بل که ډېروواورو ځنې سوړشی
افسوس ! که د ډ ای زړه غریبا نو ځنې مو ړشی

آخر به پښېمان نه شې که څوک ښه و کړی اول کښې
شا عر د پسرلی گلو نه ستا یی پـه غز ل کښې
پـه زړه ، د بختانی له دې اشعا رونه څه وا و ره
له ما ځنې د ژمی سپینو وا و ر ونه څه و ا و ر ه

کابل ــ شاه شهید ــ د ۱۳۳۹ دجدی (۱۸)

سعید افغانی

## «زړه ته»

تر څو به دخپلې هوا او هوس دپاره دومره مشکلات زغمې.

ته! هو ته! په یادلری او که نه هغه خاطرات، هغه ورځې او شپې هغه خوازه آشنایان، هغه د لطف او نزاکت او شوخۍ مجلسونه! افسوس! ولاړل تیر شول او تیر یږی یقین لرم چه ته هغه له یاده نشې ویستلی ځکه هغه ستا په ژوند پورې پوره اړه لری اې زما زړه! و ای دخلکو زړونو! پوهیږم چه تلوسې او امیدونه لرئ او دخپلو پریشانیو له لاسه ځوریږئ، تاسو هیلې لرئ نو ځکه ستاسو دهیلو په خاطر دزړونو عواطف او لورینې غواړم.

اې زما دځان ملګری! اې دعشق مرکزه! هغه عشق چه تا دخلکو څخه پټ ساتلو فاش او رسوا شو ځکه چه ستا دعشق بهترین داستان دریکاټ په ضمن کښې ثبت شو او دموسیقۍ په دفتر کښې ولیکل شو. هو! ستا دژوند خاطرې د کتاب دپاڼو په مخ او دریکاټ په ضمن کښې وساتل شو لوستونکی یې لولی او اوریدونکی یې آوری او پوهیږی چه دا داستان دزړه عواطف او ملکوتی الهامات دی.

دا دوطن ملک، قام او قبیل او دملت دنهضت او پرمخ تک دپاره امید ونه او هیلې دی. دا دهغه ارمانونو معراج دی کوم چه ډیر و انتظارونو څخه وروسته په لاس راغلی دی.

اې زما ګرانه زړه! او س هو اوس عهد وکړه چه دځان او دخلکو دخدمت دپاره مینه او محبت او عشق او جذبې ته ادامه ورکړې ترڅو هغه مخ کښې تللی قافلې ته په ډیر زور او قوت سره ځان ورسوې.

## ژوند یو ته

ژوند دڅه دپاره دی؟ که ژوند بې کاری وی نو مرګ څه شی دی؟ ژوند واسطه ده او که نه غایه او هدف؟ ژوند ښه دی او که مرګ؟ زما په فکر ډیر ژوندی دی چه دنورو ژوندیو برخه خوری.

بالعکس ډیر داسې خلک مړه شول چه دهغوی دژوند دګټې او فائدې څخه تراوسه خلک استفادې کوی. حقیقتاً چه د ژوند په راز هر څوک نه شی پوهیدلی ژوند یوه لوبه ده چه په دې لوبه کښې سربیره پر منډو او تر ړو په سل ها واو زرها وهلې ځلې هم شته. نو ژوند ته باید په عادی او سرسری نظرونه کتل شی او نه دومره باید دغور وړ شی چه دیو با افتخاره مرګ نه هم مهم وګڼل شی.

څیړنه ـ تجربه او مشوره دژوند مزیت زیاتوی

جنبش او حرکت جدیت او فعالیت دژوند معنی ده.
پوه خلك باید دعا مو خلکو سره د ژوند دښو دلو په مقصد مرسته و کړ ی.

## محتاط ته

تاخو څه غوښتل مگر په تته ژ به. تا څه ویل مگر په زړه کښې دې پا تې شول تا څه وریدل مگر په مغشوش ډول. تا څه احساس کولو مگر باور دې پرې نه درلودتا دذ ائقې په خوندکښې هم بې خو ندې محسوسو له ځکه چه ستا افکار و ستا په حو اسو تأثیر اچولی واو تا ته چه کو م مهم مر ض متو جه وهغه همداچه مضر احتیاط دې کولو.

ستامرض سوداوه مگرتابه ورڅخه دپوهې تعبیر کو لو. ځکه عو اقب دې ښه نه شو سنجو لی او کله یو څه خو ش بین او خوش باوره هم وې نوته بایدځانته متوجه شی دخدمت اودعمومی نهضت په لیاره کښې محتاط نه اوسی او نه ز یات خوش باو ره.

**مغرورته:**

ته نه پو هیبزې ځکه څوك نه شې پو هو لی. ساده یې ځکه څه نه شې سنجولی. ته دخودی په نشه کښې د وخت داقتضا آ تو اوا یجا با تو څخه بې خبر ه یې ته! هو ته! پـه د ې و لـی نپو هیبزې چه څه باید و کړ و. درس نه وایې او وظیفه نه پیژ نې نو په دې حسا ب ستا ټول ژوند یوه خطر نا که ډ را مه د ه هو د ا سې ډرامه چه احساسات پاروی مگر ته نه پاریبزې ته دچا سره ولی په یوه لیاره نه شی تلی او د ا ولې دعمو می نفر ت سره موا جه یې که ز ما مینې دغرو ر په ځای دمینې اومحبت سره ځان عادی کړ ه.

**اد یب ته:**

زه نه پوهیبزم چه ته اد ب ته په علم قا یل یې او که په صنعت ته ا د ب حقیقت گڼې ا و که تعبیر؟ ادب دادب دپاره غو اړې ا و که په ادب سره دخلکو احساسات پاروې؟ ته! هو ته! ووایه چه ادب رنگینی او جلو ه ده او که نه دحقیقت روښانول؟ زمادا پوښتنې دهغه ا د یب څخه نه دی چه هغه په صرف ا دب نا ز یبز ی بلکه زه دهغه ادیب نه معلومات غواړم چه هغه په مطلب پوه وی هدف ولری او دادب څخه مطلوبه استفاده کولی شی.

مأخذ : تولو دپاره اساسي معلومات

د میر اکبر ترجمه

## د نړۍ ادبیات

— ۳ —

# ارغوني روم

**د ډانتي اسماني کومیډۍ :**

که څه هم دایتالیې ژبه د لرغونیو پېړیوله لاتیني ژبې څخه اشتقاق شوې ده. نرمنځنیو پېړیوپورې په ایتالیې کښې هیڅ داسې ایتالوی ادب پیدا نه شو چه په دې نامه وارزی. له ډانتي نه پخوا په ایتالیې کښې د شعر غوره موضوع انساني مینه وه. غنایي شعرونه پاملر نه هیڅ نه کیده.

ډانتي الیګیري په ۱۲٦٥ کال کښې زیږیدلی و. دی د عمل او شعر سړی و. ده د یو مکمل ښاري دولت خوبونه لیدل چه غوښتل یې هغه د سیاسي اقتدار له لارې خلق کړي خو د خپل خوبه د تعبیر په لاره کښې په اعدام محکوم اوو شړل شو. د ده لوړ شهکار الهي کومیډۍ یوه مذهبي موضوع ده چه له سوځند عقیدې څخه یې سرچینه نیولې.

په تیره ګڼه کښې مو د دانتي نه د شهکار د یو الهي کومیډۍ (کومیدي الیهي) نوم هم اخیستی ؤ او دا موهم ویلې وو چه دغه کتاب اساساً یو مذهبي کتاب دی. پدې کتاب کښې دانتي د ویرژیل له ملګې سره په جهنم کښې بوسفر کړی او په جهنم کښې خپلې کتنې د یو کتاب په شکل لیکلې. په «د یو الهي کومیډۍ» کښې د وزخ یو داسې ځای ښودل شوی دی چه نه طبقې لري. هره طبقه به ډیر دقت او ویروونکې ډول تشریح شوې ده. ملټن په خپل اثر «بایللی جنت» کښې دوزخ په مبهم ډول تشریح کړی دی. اما دانتي د دوزخ حالت او کیفیت په ډیر وضاحت سره تشریح کړی دی. ځینې دوزخونه داور په شان سره وو او داور سرولمبو د ګناه ګارانو لغړ ځانونه به عذاب بول ځینې نور دیخ په شان ساړه وو، چه تل به کښې واورې اوږلې وریدلې. په یوه د وزخ کښې د هغو کسانو ارواح چه د تعمید غسل ئې نه ؤ کړی ډیرو سختو بادو په د وامدار صورت به تیرو کمرونو باندې وهلې، په د وزخ کښې د ایشیدونکو وینو رودونه بهیدل چه ډیر بدبوی ئې درلود؛ په دریم دوزخ کښې داسې مارانو وچه د ګناهګارو په ارواحو باندې به ئې ورته وپ کړل او شنه لمبه به ئې

کړل. هرې ګناه ځانته مخصوص عذاب درلود. هغه چا چه د اینده پیش ګوئی کړې وه د هغو عذاب دا ؤ چه سرونه ئی د شاخواته ګرځیدلی وو ترڅو چه خپله مخه ونشی لیدای

په دې سفر کښې دانتې دیوداسی سړی تصویر ولید چه خپل سر یې د چراغ په څیر په لاس کښې نیولی ؤ کله چه دانتی ته په مخه ورغی نو خپل احوال ئی ده ته څرګند کړ چه ولې دی په دغه عذاب اخته شوی دی په نهم دوزخ کښې چه ترټولو ژور دوزخ دی په خپله شیطان موجود ؤ. خو د دانتی شیطان د ملټن د شیطان یا د بون یان دا پولیون په شان یوه مغروره او متمرده ملکه نه ده. د دانتی شیطان یوې سترې هیولا نه ورته دی چه دری سرونه لری او ترستنې پورې په سوزونکی سرې ځمګې کښې خښ شوې دی. د دی شیطان یو سر تور، بل ژبړ او دریم سور ؤ. د شیطان په هر سر کښې یوه خوله او په هرې خولې کښې ئې یو ګناهګار نیولی ؤ او زدوو ئې د شیطان په سره خوله کښې یهودا رسکاریو ؤ.

دانا ممکنه ده د کمیډی الهې ټوله قصه بیان کړو. د دوزخ له نه مرحلو وروسته د اعراف. نه مرحلې راغلې. د اعراف نه واړه مرحلې د یوه غره په لمن کښې دی د اعراف له نه مرحلو وروسته د جنت نه مرحلې راغلې او دانتې ئې ترلری ستورو پورې بوت. د جنت هره مرحله نسبت بلې مرحلې ته ډیره ښائیسته وه.

کله چه به تورمخ دانتی د خپل اصلی هیواد فلورانس په کوڅو کښې تیریده خلکو به یو ل ته ویل چه «هغه سړی دوزخ لیدلی دی»! دا په یاد لری په کار دی چه په څورلسمه او پنځلسمه پیړۍ کښې د دوزخ منظره د خلکو په ذهن کښې نسبت د شکایت شلمې پیړۍ ته ډیره روښانه او ویره ونکې وه.

له بیتریس سره د دانتې د منې قصه د نړۍ له عشقی کلاسیکو افسانو څخه ده.

بریسره په کمیډی الهی دانتی یو لړ نور معتبر آثار هم لیکلی دی چه د ټولو آثارو شمیر یې د ولسو ته رسیږی. ډیرو لیکوالو د دانتې آثار په انګلیسی ژبه ترجمه کړی دی. د مثال په ډول لانګفیلو د دانتې کمیډی الهی په انګریزۍ ژبه ترجمه کړ.

**د بوکاسیو «دیکامیرون»:**

په دغو پیړیو کښې یو بل ستر ایتالوی بوکاسیو ؤ. بوکاسیو سل لنډې قیصې لیکلی دی چه ټولی ئی په یوه جلد کتاب کښې د دیکامیرون په نامه راټولې شوی او چاپ شوی دی. بوکاسیو د عمر په اولو وختو کښې یوې ارستوکراتۍ ټولنې ته ورغی د دې ټولنې غړو به خپلې شپې او ورځې په عشقی موضوعاتو باندی تیرولې د دې ټولنې محیط له دسایسو، فریبونو، معاملاتو

څخه ډکؤ دعشقی موضوعاتو او معاملاتو دپریګړې دپاره یوه دعشق محکمه موجوده وه.

دبو کاسیو «دیکامیرون» یا دقیصو مجموعه داسې اثردی چه د کلیساله ذوق سره برابر نه دی او د کلسیا دغضب مورد واقع شو.

**ماکیاولی او سیلینی:**

دایټالیې دپخوانی ادب نور نومیالی شخصیت تونه په شعر کښې پترارک ار یوستو، او تاسودی؛ په نثر کښې ماکیاولی ترټولو زیات شهرت لری. دماکیاولی نامتو اثر «پرنس» ډډیرو هغو سیاست مدارانو دپاره دالهام منبع ده چه فاشیستی تمایل لری. دادی موږ دمثال په ډول د «پرنس» له کتاب څخه یو څو جملې رانقلوو: هغو واکمنو چه ستر کارونه کړی دی، دډیرو وړوشیانو په باره کښې یې ښه ایمان ساتلی دی، او پوهیدلی دی چه څنګه له مهارت او چالاکۍ څخه کار واخلی، او په پای کښې یې هغه کسان مغلوب کړی دی چه ددوی په خبرو باندې یې باور کړی ؤ».

«هغه چاچه دانسان په جامه کښې د ګیدړې چارې په ښه توګه اجرا کړی دی ښه کامیاب شوی دی. خو په دې شرط چه د ګیدړې ممیزات په ماهرانه ډول څرګند کړی او ښه بهانه جووی.. انسانان ډیر ساده دی که څوک دچاپه غولولو پسې پښې لوڅې کړی نو وبه ګوری داسې خلک ډیر دی چه ځانته دغولیدو اجازه ورکوی».

«دیو واکمن دپاره داضروری نه ده چه ټول هغه ښه صفتونه او فضایل ولری چه ما شمیرلی دی. خو داډیره ضروری ده چه خلکو ته داسې څرګنده کړی چه ګواکې په ده کښې دغه فضایل ټول موجود دی».

«ښځه بخت او اقبال ده که غواړی چه هغه ځانته تابع وساتی، وهی یې او بدسلوک ور سره وکړی، او دا یو ضروری کار دی. ځکه چه ښځې په دې خوښې وی چه دیو ماجرا غوښتونکی سړی ترلاس لاندې وی نه داچه دیو آرام سړی ترلاس لاندې. ښځې تل ځوانان خوښوی ځکه چه ځوانان لږ احتیاط کار، ډیر شدید دی او په ډیره بی پروائۍ سره په ښځو باندې حکم کوی».

دلته دالاز مه ده چه دایتالیې ځینې نور لیکوال هم یاد شی. دنورو لیکوالو په جملې کښې دبنونو توسیلنی نوم دیاد ونې وړدی دده آتو بیو ګرافی درک ګویې او مبالغې په نسبت جهانی شهرت لری کیدای شی چه نوموړی دټیټو اشخاصو په لړ کښې له نظر څخه وغورځول شی خو په هغه بې ریاتو ګه چه دی په خپلو کارو باندې ځان خوښوی، دی د ډیرې د ستر واګو ئیستانو (خودخواهانو) په لړ کښې هم راولی. سره له ټولو بدو صفتونو چه دی ئې لری خو که څوک په ده پورې ځاندی ضرور به په هغه پورې هم وخندل شی.

**دفرانسی درنسانس ددورې لیکوال:**

دهغه ستر نهضت په نتیجه کښې چه ورو سته ترمنځنیو پیړیو په ایتالیې کښې راپیدا شوی ؤ په فلورانس کښې دلرغونی یونان په څیر زیات شمیر شاعران. لیکوال نقاشان، مجسمه جوړوونکی

او نوابغ راپیداشول دغه نهضت په ایتالیې پورې مختصر پاتې نه شو بلکه دهغه هیواد ګاونډیو هیوادوته یې هم سرایت وکړ درنسانس نهضت پخواله دې چه په انګلستان کښې حس شی فرانسه یې راویښه کړه مونتنی دفرانسې لومړی مقاله لیکونکی دی. دده دمقالې لیکلو سبک تراوسه پورې په نړۍ کښې یومنل شوی سبک دی. هغه چاچه په انګلستان کښې دمونیتنی دمقالې لیکو سبک تعقیب کړ فرانسیس بیکن دی. دبیکن سبک دفکرو تمرکزاو تعمق نمونه دی.

رابیلې دفرانسې یو نامتو فزیکدان دی. دی په عین زمان کښې چه روحانی ؤله روحانیت سره یې دومره علاقه نه ښودله چه ۱۵۳۱ کال کښې هغه وخت چه ۳۷ کلن وخپل لومړی شهکار یې ولیکه دده کتاب دیوې افسانې په اساس لیکل شوی دی دغه افسانه دیوه دیو په باره کښې ده دافسانې دیو ګارګانتوا، نومیږی یو کال وروسته یې یوه بله قصه ولیکله دغه قصه دګارګوانتوا دزوی پانتاګرویل هیبت ناکو او خطرناکو اعمالو په هکله وه. دغو قیصو دټوکو او مسخرو شکل درلود. دغه شان افسانې دهغه زمان له مشخصاتو څخه وې.

که دعصری معیارو نو په اساس دګارګوانتا او پانتاګرویل افسانې ترقضاوت لاندې ونیول شی لیدل کیږی چه دغه افسانې ډیرې ځیږې نامناسبې او حتی مستهجنې دی؛ خود انګلستان دالیزو بت ددورې په ادب باندې عین الزامونه وارد یږی. له همدې کبله دشېکسیر ډیری لوبې د ښوونځیو له پروګرامونو څخه وایستل شوې او ځینې نورې چه په ښوونځیو کښې لوستل کیږی په ډیر احتیاط سره ددوهم ځل دپاره چاپ شوې چه ښوونکی له پریشانۍ څخه خلاصی شی.

دفرانسې دشعر په باره کښې هم باید یو څه وویل شی ځکه چه په هغه وخت کښې په فرانسی کښې شعر ډیر زیات ؤ دفرانسې د دغه وخت په شاعرانو کښې ډیر لوړ شخصیت فرانکای ویلون دی. نوموړی په ۱۴۳۱ کښې زیږیدلی دی، دځوانۍ په وختو کښې یې یو کشیش وواژه اودټول عمر دپاره یې د تبعید په حال کښې ژوند کاوه ډیر رسوا اورذیل غل ؤ. خو ډیر ښه شعر یې وایه دده یو ډیر ښائیسته شعر په هغه شپه کمپوز شو چه سباته یې دی غرغره کاوه. دی یو فوق العاده کرکټر وا پرته له زیات شمیر قیدو ویلو په پنځه ویشت کلنۍ کښې پیتت ټسټمنت LEPETITTEATAMENT او پنځه کاله وروسته یې ګزانډ ټسټمنټ LEGRADTEATMENT ولیکه.

رابرټ لوبې سټونسن دښاغلی دیلون ډیره ستاینه کوی ودده په باره کښې یې یوه قصیده هم لیکلې ده دی په خپل ټول عمر کښې آواره ؤ اوله دغه ژوند څخه خوښ هم وا و هیله یې کوله چه یوه ورځ به یې مړی په یوی کندې کښې پیدا شی.

(نور بیا)

له(پنځه لوی مخترعین) څخه

مترجم: اتیك خیل وردګ

# کوچنی تلګراف اوژان شاپ

نه وینې چه دا زمونږ ماشو مان ـ له څو ورځو نه راهیسی هره خوا ګرزی ؟؟دا پوښتنه مادام شاپ له خپل میړه نه په داسې حال کښې و کړه چه دباغ له پنجر ونه یې دباندې کتل.

موسیو شاپ حیران غوندې سر راپورته کړ.

او دڅو لحظو سکوت نه وروسته یې ځواب ور کړ: رښتیاده چه داشو خان دپټ پټانی کولو خیال لری زه ګومان کوم چه زمونږ کوچنی ددې ډلګۍ مشر وی ـ څه داسې نوی شی یې میندلی دی چه دنورو ملګر یو یې ډیر خوښ شوی دی ځکه دوی ټول په ډیره دلچسپی ورځی او ګوری یې. زه غواړم چه ډیره پټه ننداره یې و کړم.

ـ دا کوچنی شوخ په رښتیا چه په دې سن ډیر هوښیار دی ـ او له خپلو ملګر یو سره دلوبو په ترڅ کښې داسې ښکاری لکه چه څه پلټی ـ زه ډاریږم چه دا کار نقص ور ته ونه کاندی.

ـ آه ـ دا دارولی ؟؟ نه پو هیږې چه د ده کاکا (لابی شاپ) به موږ ته ویلی چه دا د کار شو قمن هلك او نه ستو مانید ونکی پلټونکی به یوه ورځ ډیر لوی عالم او دمملکت افتخا روی.

ـ زه منم چه ستا ورور چه پخپله ډیر پوه سړی دی ضمنا په دې موضوع کښې یو ښه قضاوت کوی خو وراره یې پرې ډیر ګران دي ماته ښکاری چه څه موده وروسته به خپل ګران وراره مغشوش کاندی.

وا یې (کلود) له خپل کاکا نه دعلومو مینه په میراث وړې ده.

ـ له همدې کبله یې له لوبو څخه نه منع کوې.

ـ داخو د کلو دڅه غلطی نه ده ـ یوه هلك ته چه په یوه داسې سن کښې له فزیك او میخانیك سره آشنا یی ولری ـ ښایې چه په داسې لوبو ځان مشغول کړی چه د ده سن ته مخصوص وی اوس ګړم یې کړای شی.

ـ لو بې! سر ګرمی !.. نا څاپه یوه (۵۰) کلن سړی چه باغ ته راتله داخبری یې پرې کړې یقین ولری چه ستاسو زوی چه له لوبو سره مینه لری ـ دداسې اختراع په لیار روان دی چه په دنیا کښې به یو انقلاب راولی.

ـ ایا داممکن دی چه زما کلود به یو داسې تحول راولی لکه چه نن پاریس لړ زولی مادام شاپ په چیغه سره وویل.

ـهوا الا ی شاپ په خندا کښې و ویل: کلود به یوه ورځ د سیانس په نړۍ کښې تحول راولی.

پخوا له دې چه داخوږ ې خبرې اترې پای ته ور سیږ ی ښایی چه غږیدونکی لږاو ډیر وپیژنو.

موسیو او مادام شاپ دوه بور ژو اکان و وچه (فلیش) ته نژ دې اوسیدل د (مـن) دا خندانه منطقه شاعرانه منظره لری دوی څلور زامن لرل د دوی له ډلې نه د وه تنه مشهور شوی چه لومړ ی کلود دی چه زموږ موضوع د ه او بل یې کشر ورور (انیاس) دی چه له ده سره یې په کار ونو کښې مر سته کوله.

او کا کا (ژان شاپ دو تروش) چه په داسې فعالیت سره یې دخپل و راره نه مد افعه کوله دفز یـك اوستاره شناسی یولوی عالم اود کلیسا مشرو.د ه ضمناً په سیانس کښې هم لاس درلود موږ ته د ژان شاپ په باره کښې معلومات ډ یر اهمیت لری ځکه چه داد ی وچه کلو د یې تشو یقا و ه.

لا بې شاپ ډیرې تجربې و کړ ې چه د بر یښنا د مطالعې له پاره ډیر ه مرسته کو ی او په دی لیار ه کښې یې لویو خطر و نو تـه او ږ ه ور کړ ې و ه ـ هغه د علو مو ا کا ډ یمی چه دی یې غړ ی و ډیر شهرت یې درلود.

دده له ډ یر و کا ر و نو څخه یو د نمر د باسه د (VENUS) تیریده و.

په د ې کار کښې دا یوه په ډیر و مشکلاتو سر ه بر یالی شو ـ او خپل مشا هدات یې دیوه کتاب په شکل دی او اوس هم موجود د ی چه د بر یښنا او صاعقی د حاد ثاتو مشاهدې دی د ۱۷۶۱ ع کال د ژان دمیا شتې (۱۱) غرمه وه چه یوه لویه ټوټه و ر یځ په آرامی سره دا فق له پاسه راجګه شوه ـ سیلی او بړ بو کړ د نمر مخ پټ کړ ی او تپه تیاره یې جوړه کړې وه.

لا بې شاپ په یوه سیم باندې چه ده له یوه برقی ماشین سره د خپلو مشاهداتو په خونه کښې تر تیب کړی ود صاعقی رالویدل و لیدل. کله چه ده هغه عظیمی صا عقی په خا مو شی سر ه امتحا نولې کومې چه له برقی ماشین نه تولیدې دې خپلو شاو خو ا کسانو او هغه چاته به یې چه ده ته و ر نژ دې کیدل په زوره چیغی کړې ، بیرته ولاړشی ، د رعد یوې ناڅابی چاودنی یو دبل په مقابل کښې د معاونت ضربه وغورځوله په دې حال کښې دا یوه یوازې په لو ګیو کښې ولاړو او د دې وحشتناك طوفان صفحات یی نو ټـو ل.

داسې یوه شخصیت د کلود د تعلیماتو رهنمایی کوله ـ او له نیکه مرغه د د ې هلك نیوغ ورته ځر کند شوی و.

یوه ورځ (لابی شپاپ) خپل ور اره په داسې حال کښې له (۱۲) کالو زیات عـ ر یی نه د رلود ډ یر متعجب کـړ ځکه چه . لک

د کوچنیو تختو په سکښتلو بوخت و- چه تور اوسپین رنګ یی درلود او بیایی دیوه پیچ په واسطه په یوه و لاړه او کلکه پایه پوري تړلې وې .تارونو اجازه ور کوله چه هره یوه تخته وخو ځیږی او هغه وضعیت ونیسی کوم چه وغوښتل شی ( لکه عمو دی - افقی یا منحنی ) .

لابې شاپ پو ښتنه ترې و کړه « نو د ادې دباد ژرنده جوړه کړی ده» په رښتیا سره چه د لوبې دې الی بالکل د یوې بادی ژر ندې شکل د رلو د چه هلکان یی تار په واسطه څر خوی .

کلود ځو اب ور کړ نه کا کا زه یو داسې ماشین جوړول غواړم چه خبرې و کړ ی .

یو ماشین چه خبرې وکړی !!! څه وا یی ؟؟

دا کوچنی وزرکی چه تا سې یی په تو ر ا و سره رنګ کښې وینی- متحرك د ی او په داسې ترتیب سره ایښودل شوې چه کولای شی ما او هغه چاته مختلفې معنا ګانی و لری کو م چه په دې رمزله پخوانه پوه شوی وی.

اه ! کا کا په ډیر تعجب سره ناره و کړه . دا څومره عجیب دی- اوماته ووایه چه د ابه کومې معنا ګا نی و لری ؟؟

ډ یرښه ! که چیرې وزر کی افقی وود ا به داسې معنی لر ی :

«موږ به نن ماښا م دلو بوله پاره په باغ کښې سره غونډ یږ و »

او که چیرې داتوره دړه چه ښی خواته ده افقی کیښو له شی زه ویل غواړم چه « مه راځی زه نن وز ګا رنه یم » .

— ډ یرښه !

— اوبالاخره داهروز ر ګی د یوې جملې معنی لر ی .

-زماوړو کیه کلوده!! داله ټولې ساده ګۍ سره دتحسین وړدی .- اماڅرنګه به ستاواړه ورونه اوملګری په دې اشارووپوهیږی ؟؟

— کله چه ماشین تکمیل او په کار واچول شو زه به هریوه ملګری ته یوه پاڼه کاغذ چه د تختو د وضعیت اومتعلقه جمله به پرې لیکلې شوې وی در کړم نودا کار به ماپه ډیره آسانۍ سره پوهو ی .

— اودایوازې ته یی چه دامفکوره لری ؟؟

— هو !- څرنګه چه زه نه شم کولای هروخت خپل ملګری ووینم داماشین چه زما د کړ کۍ په سر به ایښی وی- د وی ته به هغه څه ور پوهوی چه زه یی ارزولرم . مګرډیر وروسته کوم وخت چه زه لوی شوم زه به یوغټ ماشین جوړاو په یوه جګ ځای کښې به یی کیږدم اوپه د ې وسیله به له ډ یرولر ې ځایونوسره رابطه پیدا کړم اوهمدارنګه به زما ملګری دخپلو ماشینونو په ذریعه زماځواب را کوی .

(لابی شاپ) چه په زیږمو کښې یې اوښکې راغلې وې - خپل وراره په غیږ کښې ونیواو په دې کښې یې شك نه درلود چه دی به ډ یر

زرد نوې د نیا له پاره یوه ډیره ښه اختراع وکړی «زمازویه ستا دامفکوره ډیره پاکه ده اوزه به ددې ساده الې نه دیوی داسې الی په جوړلو کښې مرسته وکړم چه یو وخت دبشریت له پاره ډیرلوی خدمت وکړی» اوداله دې کبله وچه سپین ږیری پوه دخپل ورارهابداعی روح پیژندلی وه اودده والدینو ته یی په دومره دلچسپی سره خبری کولې .

☆ ☆ ☆

لابی شاپ وویل « هو!.. کلو دیوه داسې وسیله پیدا کړیده چه دخپلو ملګریو سره ارتباط پرې پیدا کولی شی . او اوس داشوخ هلکان یوله بله سره دلوبو خبرې دورځې خبرونه او همدارنګه دتفریح سلا او مصلحت په اشارو سره کوی .

— اه ! زه پوه شوم دا هلکان په ډیره اسانتیاسره چه کورته ځی اوراځی یو له بله ملاقات سره کوی- په دومره رمز سره بحث کوی .

— لابی شاپ وویل چه د کلوداختراع ساده څرګند یږی اماکید ای شی چه انکشاف اومکمله شی او دمواصلاتو یوه ډیره ښه وسیله اوسی . داد ستر ګو به رپ کښې په د خبرونو انتقال عسکر-مانړو ګانو-سوداګرو اوخصوصی خلکو ته څومره ګټور وی ! زمانه اوفاصله یودبل دښمن وی .

پوه د اخبرې په داسې هیجان سره کولې چه موسیو اومادام شاپ ډیر خوشاله شول او په ډیره بې صبری بې خپل زوی ته چه په دې حال کښې هم په خپل ماشین بوخت وغږورو کړ اوډیر- ډیرافرینی یی ور کړ- باید وویل شی چه ( کلود ) خوشاله شومګر له دې ډیرې ستاینی نه متعجب هم و- ځکه جه دی ډیر متواضع واوهیڅکله یې تصور نه کاوه چه د ده اختراع چه وده ته به د لوبو دالی - حیثیت درلود -د ومره اهمیت ولری .

☆ ☆ ☆

څرنګه چه موږ ویلی وو ( کلود شاپ ) ۱۲ کلن واومدام دیوه نوی ماشین په پلټو بوخت واوداټول له دې کبله چه دخپلو ملګریو اوځان له پاره یوه لوبه ولری .

دده اکثر ملګری دده له کوره لری یانژدې اوسیدل اوله همدې کبله ددوی راغونډیدل یوه اندازه مشکل وو . یوه ورځ چه ( کلود ) دغونډیدوو ضرورت در لوداوخپلو ملګروته یی یوه میخانیکی ژرنده ښودله -ویی نه شوی کړی چه ملګری پیدا کړی او مجبوروچه ددوی ترلید و پورې انتظاروباسی او دې کارته . ډیروخت لازم دی چه موږ یوه داسې وسیله پیدا کړو چه موږ ته دغونډیدلو خبررا کړی .

ځینی ملګرې د کلی په څنډو کښې اوځینی نور دښارنه د باندې باندو کې اوسی موږ نه شوکولای چه سره راټول شو او بیله دې چه موږ لوبو ته دوام ور کړو فکرنه کوی چه داغونډیدل ډیرستومانونکی دی؟؟

— ملګریو ځواب ور کړ: دارښتیاده مګر څرنګه غواړی چه موږ له پخوانه خبر اوسو بیله دې چه یو یو ملګری په وار سره هر یوه ملګری ته ورشی او خبر یی کاندی.

— او دا کار ډیر تکلیف لری، ددې له پاره نیمه ورځ په کار ده تر څو هر یوه ملګری ته ورشو.

— هره ورځ به دښوونځی له رخصتیدو نه دلته را ځو.

— نو ایا موږ ویلای شو چه هر یو په همدې ساعت وزګار یو ښایی چه مونږ و پوهیږو چه موږ په غونډیدو کښې کومه ننداره لرو او که نه ؟؟؟

— یوه هلك وویل دا کار خو بیخی ناممکن دی.

— نورو هلکانو ناري کړي هو! هو! دا کار ناممکن دی.

— زه یی ناممکن نه بولم.

— نو ایاته یوه داسې وسیله میندلی شی ؟؟

ښایی ..... تاسی زما باغ ته راشیء زه به تاسو ته هغه ماشین دروښیم چه ما په فکر کښې طرح کړی دی، هلکان په ډیر هیجان او شوق سره ورپسې شول.

دیوه دیوال له پاسه چه دکلی خواته واو مخه یې خلاصه وه کلود خپله اله په داسې وضع ترتیب کړی وه چه له لری ښکاریده دا اله همغه ډول وه چه خپل کاکاته یې ورښودلی وه مګر تر پخوانۍ ډیره لویه او ډیره واضحه وه.

دا یو ډول صلیب و چه یوه متحرکه تخته ورپورې تړلی شوی وه - او ددغو تختو په دواړو خواو و پورې نورې تختی چه تور او سور رنګ یی در لود تړلې شوې چه د هغوی د حرکت نه مختلفې معنا ګانې اخستل کیدې.

تارونو اجازه ورکوله چه په ډیره اسانتیا سره دا دړې وخو ځیږی او دا په همدې ساده او ابتدائی شکل کښې د کلود هوایی تلګراف و چه وروسته وروسته تکمیل او استفاده ترې وشوه. کوچنی هلکان نه پوهیدل چه څرنګه به یوه داسی ساده اله ددوی دلو بو غونډیدو ته کومك وکړی.

هلکانو پوښتنه ترې وکړه ته څه غواړی؟؟ چه موږ کولای شو چه ټول د دی ماشین په خبرو و پوهیږو.

- کلود ځواب ور کړه زه به یی تاسو ته ډیر تشریح کړم او تاسو به وګوریء چه څو مره اسان دی - دا ماشین زموږ په منځ کښې اوږ دې خبرې اترې نه شی کولای یو ازې هغه مهمې جملې چه زموږ په منځ کښی استعمالیږی لکه: نن سبا غرمه - ماښام او نور را ښیی.

همدارنګه زه تاسو ته ویلی شم «زه تاسی ته سبا ماښام په باغ کښی انتظار باسم» «مه راځیء زه وزګار نه یم» «لو بی کول غواړی؟» همدارنګه نورې پوښتنې او ځوابونه چه زموږ هره ورځ ضرورت ورته پیښیږی.

او زموږ به څرنګه دا ټولې اشارې یادې شی ؟؟؟ تاسو په هر یو - یوه پاڼه ولریء چه په هغوی کښی به د جملو او لغتونو لست او مربوطو اشارو شکل ښکل شوی وی.

یوه مشر هلك چه «۱٤» کلن و و و یل: زه به ددې تختو په زده کو لو کو مې چه د الفباء شکل لری ډیر زر پیل و کړم.

اوه ـ څر نګه به موږ دغو نډې په ساعت پو هیږو؟؟ ـ مادا پیش بینی کړی ده دلته (۱۲) چنګك موجود دی چه د ماشین په بره برخه کښې نصب شوی وی دړه په هغه چنګ را ښکته شوی وی چه هغه پوړی به ساعت ښیی مثلاً که تاسې ولیده چه دړه په څلورم چنګك ولاړه ده و پو هیږی، چه دلو بو ساعت څلور بجې دی.

شاباس! شاباس! دا ډیر ښه دی ـ هلکانو داناري په ډیر هیجان سره وهلی ـ کلود زیاته کړه چه داسې نور ترتیبو نه هم شته چه زه به یی په کاغذ ولیکم او تاسې لره هم ښایی چه همداسې یوه اله جوړه کړی، او پخپلو دیوا لونو او کړ کیو کښی یی و درو ی موږ کو لا ی شو څو یو او بل سره پوه کړو بیله دې چه نور خلك را باندې و پو هیږی

ـ ملګریو چیغه و کړه. آه ـ دا څو مره د ساعت تیری شی دی او هغه خلك به څو مره حیران وی چه ددې الې په رمز نه پو هیږی رښتیا چه ډیره ښه اختراع ده ډیره ساده او ډیره اسانه بل هیڅو ك نه دی بریالی شوی چه داسې شی کشف کړ ی.

ـ کلود ځواب ور کړ چه تاسې د (کریستوف کولو مب) د هګۍ نوم اخلی..... هو ښوونکی موږ ته د هغه تاریخ ویلی دی... یوه هګۍ چه باید د میزله پا سه ودرو له شی...

ـ څر نګه چه هیچا دا کار نه شوای کولای کریستوف کولومب د هګۍ بیخ مات کړ ـ او په دې ډول یی په درو لو موفق شو ـ څو مره ښه! زما ماشین هم یوه داسې شی دی چه تنها یو فکر ته ضرورت و.

کلود شاپ په ښو و نځی کښې

د کا کا شاپ په مشور ه کلو د ښوو نځی ته وا ستول شو ـ او مړ ی ځل د (رووین) په یو ه ښوو نځی کښې او بیا وروسته د (لافلش) په ښوو نځی کښې شا مل و چیرته چه په دې اخری ځای د ی د خپلو همدر سا نو په ډله کښې د ښه ا خلا ق د مفکورې فعالیت له کبله خورا مشهور شو ـ دی یو ډیر ښه شا ګرد و ډیر زر په قواعدو پو هیده

ا ختراعاتو یې. ملګریو ته ډیره ښه سر ګرمی پیدا کړی وه ـ دی پخپله د نورو شیانو دلو ستلو په ځای پخپلو کتابچو کښې لګیا و کو م چه ښوونکی به یې دلو ستلو توصیه ور کړی و ه د درس نه د با ندې به د هغه واړه ماشین په واسطه چه تورې او سرې دړې یې لرلې په یوه اسرار امیز طور سره خبر یدل ـ چه دوی ته به یې دلو بو د انتظار ـ تفریح او یا رخصتی اجازه ور کو له یوه ملګری پوښتنه و کړه «ایا تا خپله تر جمه پای ته رسولی ؟؟»؟

ـ هو ما پاك نو یسه کړ ی هم ده.

ـ داده زما ترجمه زه ګمان کو م چه د ا ز ما ډیره ښه ده ـ تشکر.

او یادیوه بل شی نه خبر یې ؟؟

«ته سهار په رخصتۍ کښې تفریح دپاره کوم ځای ته ځی».

-زه غواړم چه خپل بالون (سارت) په ساحل کښې خوشی کړم.

-اه-ستا بالون! څه وخت به یې خوشی کړې موږ دهغه دلیدو ډیره تلوسه لرو، همدا ډول دې خبرو په ډیره خاموشۍ سره بیله دې چه ښو ونکی څه شك واخلی په ټولګی کښی دوام درلود. هلکانو بې له تلګراف له اسرار امیزه وضعیت چه ددوی فوق العاده خوښ شوې و په بل شی کښې فکر نه کاوه.

وایې چه ده ته یوه ملګری دمنګول فییر د ورونو د بالون کیسه کوله.

دا یوه اختراع وه چه دلته کلو د هیڅکله بی مداخلی پاتې کیدای نه شوای-نوده به دخپل پلار او مور په واسطه یو ډول بالو نو نه جوړول او بیا به یې له تودې هوا نه ډك او ناڅاپه یې الو زول. نو په څو مره شوق او بی خبرۍ به دښوونځی شاګردانو په وار وار داخبره ورته کوله. «دا بالون به دالوزولوو ړشی ؟؟» کلو د په ځواب کښې وویل هو زه به دخپل تلګراف په واسطه تاسو ته زماد منګول فیر دالوزولو وخت درو ښیم.

لږ مو ده ورو سته تختې عمو دی- افقی او منحنی ښکاره شوې چه شاګردانو دهغه خبر انتظار کاوه ماشین وویل «سبا به دالو این په غاړه په لسو بجو زما منګول فیر هوا ته جګیږی» دزده کوونکیو په نړۍ کې څومره لویه خوشالی!!! په سبایی دسیند په یوه غاړه تقریباً سل تنه زده کړی یو ې غنډۍ څنګ ته ښکاریدل. کلود دخپلو ورنو او څو ملګریو سره په مانوره پیل وکړ.

بالون یو څو تارونو په واسطه په څلو رو لرګیو پورې وتړل شو او په یوه ارتفاع دوچو وښوله پاسه و درول شو کله چه وښوته او ر واچول ښو توده هوا په بالون کښې و ر ننو ته اوورو ورودیو ملایم نسیم په واسطه پورته شو کله چه دبالون توده هوا کافی ورته ښکاره شوه چیغه یی و کړه، تارونه پرې کړی ء او پریږدی ء چه بالون لاړ شی، بالون پورته هوا ته وخوت او په ډیر هیجان سره ټولو هلکانو او هغه چاچه ددې ډلې لیدو را جلب کړی وو کلود ته افرینی ور کاوه. کلود بیرته له خپلو ملګریو سره ښونځی ته راغی او دښونکیو ټولې پیش بینی تحقق ته رسیدلی وی.

### دتلګراف دفن ترقی

په خوا له دې چه کلود دخپل تحصیلات پای ته ورسوی- دخپل هغه تلګرام په تکمیلو لو بوخت شو کوم چه ده اختراع کړی و.

ده په خپل کلی کښې دوه ماشینونه دخپلی اختراع په اساس ترتیب کړل ده دادواړه ماشینونه په ښه نو ګه اصلاح کړل او فوراً یی وازمایل

یوماشین په (بردلون) اوبل په (پراسی) کښې چه تقریباً ٦ کیلو متره لرې پروت وو کیښودل دهمدغو دوو کلیو د کلیسیا ګانو له یوې اوچتې برخې څخه یې مکملاً یو له بل سره ارتباط پیدا کولای شوای. کلودشاپ موظف کسان چه په دور بینونو مجهز وو انتخاب کړل دوی مجبور ووچه داشارو- حرکات وګوری اوپرې یورې تړلې معنی کانی ترې واخلی.

مخترع د بورلون دتلګراف په واسطه پوښتنه وکړه ته اماده یی؟؟

-د(پراسی) الی ځوابور کړ «هوا موږ ستاسو په خبروښه پوهیږو» -نوماته وو ایه چه تاسو څه فکر کوی، چه یوه داسی اله دیوه مملکت خدمت کولای شی» یقینا که چیرې ته بریالی شی چه خپله اختراع په کار واچوې یولوی افتخاردې په برخه دی- زه له دی الی نه بیله دوطن له خدمت بله آرزو نه لرم.-«وطن به هم تاسوو پیږنی.»

داټولې خبرې په یو څو دقیقو کښې سره مبادله شوې. دالومړی بری و چه دځوان مخترع په برخه شو، اوداله همدې کبله وچه ده ته یولوی اطمینان اودنورکار حوصله پیدا شوې وه ددې تجربې اوازه ډیره زر په پاریس کښې خپره شوه اوکلو دشاپ تصمیم ونیو که دخپلو کوښښونو ددوام له پاره یوې ارتی کروندې ته لاړشی.

دی دیوه ماشین په ترتیبولو لګیا شو چه لیږونکی دستګاه یی د(اتول) په سر نصب شی ځوان انجنیر نیږدې دخپل قرار په سرته رسولو بریالی شوی و چه یوه شپه څو نامعلومو خلکو دده ټوله دستګاه ورانه ویجاړه کړه او بیله دی چه ددې بدعمل فاعلین وپیږاندل شی ورک شول.

دابدکار دحسودو اوجاهلانو خلکو بدو ذهنیتونو نتیجه وه.

داد مخابرې اله چه د پنجه چنار دوړو محترکو دړو څخه جوړې شوې چه دپایتخت په لوړو ځایونو نصب اوډلې ډلې خلک تشویش په حال کښی ورته راتلل. پاریسیانو بدویل «دالوی ماشین چه نوې لویی تختې خوځوی څه مغنی لری»

نور به ویل شکل یی بیخې خیالی دی او دا ټول حرکات به یی تکذیبول اوویل به یی چه دشیطان کار دی.

ښایی چه دایوه اله وی چه د تحول په مقابل کښی مجادله کوی.

آیا دابه دشاهی فامیل اود شپاړسم لوبې په منځ کشی د ارتباط وسیله وی.

هو! هو! ژوندې دې وی دارنګه ماشین.

همدارنګه خلک چه ماسکو نه یی په مخ غوړلی وو بیا راښکاره شول او د دې نوې الی په پاتې برخه یې حمله وکړه او د اورطعمه یی کړله.

کلود شاپ دخپلی الی دمدافعی دپاره مهنده ور وکړه اوجیغه یی وکړه.

«څه کوی ! دا ماشین څه بدی نه لری او بر عکس به زموږ وطن ته ډیر مفید وی »

قهرجنو خلکو چیغی وهلی «راشکته کړې او بو کښی یی واچوی» او د څو ملګر یو په مرسته بیرته پاریس ته راوتشتیدیوه (ارکانال) هغه ماجراوې په یادوې چه د (کلود) ماشین بیرته راو کرزوی .ده د کلود په مدافعه لاس پورې کړ اودا رنګه علمی قرار دادی اعلان کړ «نامتو شاپ د اشارو په واسطه دمفکورې انتقال په برخه کښی یوه ډیره مفید اختراع کړی په داسې حال کښی فاصله په فاصله په څلورو یا پنځو ځایو ماشینو نه له یوه خبر اخلی او بل ته یی ور کوی او دا کار اجازه ور کوی چه له ډیر لرې ځای نه په کوم وخت کښی خبر انتقال شی دارا پورچه د حق بینی دجذبې لاندې لیکلی شوی (ارکانال) ته یو لوی افتخار دی علمی قرارداد دهغه تلګراف ترتیب ته ډیر کومك وکړ کوم چه دپاریس او لیل به منځ کښی د ۲٤۰- کیلومتر به فاصله تاسیس شوی و.

دا ځل الات په لوړ وبر جونو - کلیسا ګانو په سرو نواو په لوړ وغونډیو ایښودلی شوی وو په داسې حال کښې چه له لرې ځایونو نه به ددوربین په ذریعه واضح لیدل کیدل.

دا خط له (۱۵) سټیشنونو له جوړشوی او له هغه تلګراف سره یې ډیر اختلاف نه درلود کوم چه کلودشاپ خپلو والد ینو ته په (بورون) کښې ورښو دلی وو . یو پړی چه په سر کښې یې دړې بند ې شوې وې اوددې دړو په څو کو پورې دوه نو رې نښتې وې چه اندیکاتورونه نومید ل ددې دړو مختلفو وضعیونود موظفو کسانو له پاره یوغټ شمیرلغتونه ا فاده کول.

څومره ښه! دادخبرونو انتقال په یوه فوق العاده سرعت سره کیده او تقریباً تردوودقیقو کم وخت کښې له (لیل) تر (پاریسه) پورې مخابره کیدای شوای.

محاربه نژدې وه د غلیمانو ډلې دفرانس په څنډو کښې سره غونډیدلې اطریشان و (کانده) له خوا په (٦) ورځو کښې تصرف شوی وو او فرانسویانو غوښتل چه دا ځای — د دښمنو د هجوم له پاره پیش قراول په څیرونیسی.

تلګراف په ډیره بی صبری سره دفرانس د شمالی خبرونو ور کولو انتظار کاوه.

ناڅاپه د جون په (۱۹) په ۱۷۹٤ کال کښې د فرانسویانو له خوا دا (کوندی) د تسخیر خبر ور کړ. هیجان زښته ډیرو، نه یوازې د فتحې د خبر له امله بلکه د تلګراف د مخابرې له دې سرعت نه هم و تلګراف وویل چه:

«دفرانسی دشمال عسکر د وطن له پاره ډیر سزاوار عسکردی» - داخبر مود دتلګراف په واسطه اخستې .دغنډې یوه غړی و ویل:

څودقیقې وروسته رئیس دیوې لوبې خاموشی په منځ کښې اعلام کړ:

«دتلګراف مضون (کاندی) ته رسیدلی او دامعنی تری اخستې شوې چه دشمال قول عسکر او حتی قوله اردو له دې کاره ډیره خوشاله ده»

دې مفیدې نتیجې ټوله اسامبله په هیجان راواستې وه او فیصله یې وکړه چه نامتو کلود شاپ به له دې وروسته د فرانسې (د تلګراف انجنیر) لقب اخلی او مملکت به یې مواجب اخلی او تصمیم یې ونیو چه له پاریسه به د فرانسې اساسی ښارونو یو یو بل لین تعدیدوی مخصوصاً سرحدونو ته تر څو چه وطن مستقل او په امان کښې دی.

اما کلود شاپ هیڅکله داسې فکر نه وکړی چه دده اختراع به یوازې د جګړې او عسکرو له پاره استعمالیږی. ده به ویل.

«زما تلګراف د سولې یوه اله ده. دا تلګراف به خلك یوه له بل سره نژدې کوی او ددوی به پیژندګلوی کښې مرسته کوی. همدا رنګه دا اله به په زراعت کښې د طوفانونو او جوی انقلابونو نه د خبرو لو له پاره استعمالیږی د ماڼوګانو له پاره ددې د ړوبه واسطه به له بیړیو نه د خطر په وخت کښې استعمالیږی د سوداګرو له پاره او بالاخره د ملتونو په منځ کښې یو سریع ارتباط قایمولی شی.»

په دې وخت کښې د کلود شاپ دا اختراع خپل کمال ته رسیدلی او د کاکاشاپ هغی پیش بینی تحقق وموند کومه چه دده په باره کښې یې کوله. هوایی تلګراف ډیره موده په فرانسه کښې استعمالیده مګر سره له دې هم ځنی نقصانونه پکښې موجود وو. مثلا باران - ګردلی او یا اکثر بادونو مخابرهٔ قطعه کوله همدا رنګه په شپه کښې مخابرې امکان نه درلود په ۱۸۴۴ کښې د برقی تلګراف مفکوره منځ ته راغله او دا ول ځل له پاره د پاریس او (رون) په منځ کښې تاسیس شوه مګر دا کار بیله مشکلاتو ونه شو څرنګه چه د هوایی تلګراف شروع د خلکو بدګمانی راوپارولی، همدا رنګه برقی تلګراف هم په اولو ورځو کښې د خلکو تر حملې لاندې واقع شو.

د کیلو اوسید ونکیو به ویل.

«ددې کار له پاره به خپل سیمونه زموږ د کروندو په سر تیریږې او ممکن دی چه یوه ورځ زموږ ګښت په تند روسیږی.»

«ډیر زر به دا زموږ کور و نه هم راوران کاندې» د ښار خلکو به نارې وهلې.

تلګراف د ټولو بدبینانو باوجود کامیاب شو نن نه یوازی یوازې د ښارونو په منځ کښې ارتباط قایموی بلکه مفکورې انتقال د بحرونو نه تیریدای شی. چه بر سیره پردې په همدغه وسیله د لیك او تصویرونو انتقال ممکن شوی، او بالاخره یو ډیر لوی بری د لوی چه د بې سیمه تلګراف منځ ته راغلی.

دا اخری کارونه که څه هم د کلود شاپ له کارونو نه لرې دی مګر بیا هم هیڅکله ددې نامتو مخترع شهرت نه کموی.

په پاریس کښې دده په نامه په ۱۸۹۳ کښې له ۱۰۰ کاله وروسته دده له موفقیته یو ډیر ښکلی د یادګار څلی جوړ شوی په دا سې حال کښې چه دی د هوایی تلګراف تر څنګ ښی خواته په کیڼ لاس کښې یې دوربین او په ښی لاس د خپلی الی په مانوره بوخت ښکاری. دا ښکلی مجسمه د هغه ګران وطن وال ته یو احترام دی چه د ټولو خلکو په نزد محبوب وی. پای.

سید احسن الله «هیر»

# دانارلور

له هغې ورځې چه انار گل نه د دنیا شته او هستی لاړه نو په ولس کښې په انار مشهور شو پخوا به ورته خلکو انارگل خان اوچا به لا (خان صاحب) وویل دولت یې خپل ؤ مگر عزت یی په خلکو .ښه یا دسړی و او په ټول ولس کښې دده نوم ؤ د ولس وړو ماشومانو هم د انار گل نوم پیژانده د خپلو ځمکو په منځ کښې یې یوه ښه بر جوره کلا او یوه ښه لویه دیره در لوده ښه ډوډۍ مار سړی ؤ. دوستان ،آشنایان به تل دده په دسترخوان را ټول وو او هر چا به دده صفت کاوه .مگر داسې ورځ هم راغله چه د انار گل نه ځکمه او جایداد ټول لاړل ،په دې او هغې ترې خرڅ شول .ښکلی او گڼه دیره یې د سره لمر ډاگ شوه او ونې یې ټولې له بیخه ووتلې په کلا کښې یې هم دولس سرمایه دار ننوت او په لبزو پیسو کښې ترې لویه کلا و لاړه ور وسته له دې انار گل خان په ولس کښې په انار مشهور شو او ځوی یې سخی پردی نوکر شو. اوس نو انارا و سخی په سر وغرمو کښې پردۍ مزدوری کوله او په زیار به یې د کور او وړو ماشومانو دپاره دیوې گیډې ډوډۍ پیدا کوله .د زمانې برگشت ؤ هغه انار گل چه په دستر خوان به یې ډیرو خلکو ډوډۍ خوړله دیوی گیډې ډوډۍ ته اړشو او دده ښځه (حمیده) چه په خپل وخت کښې دښې بر جورې کلا او څو خدمتگارو خاونده وه اوس دې ته مجبور شوه چه په دریم کلی کښې پردۍ مزدورۍ وکړی او دخپل میړه او ځوی سره دمرستې په لړ کښې خپلو ماشومانو ته ډوډۍ پیدا کړی.

سهار به لاملا اذان نه ؤ کړی چه حمیده به له خپلی زړې بړستنې را پاڅیده او د خان کورته به دسهار دډوډۍ پخولو لپاره روانه شوه. دخان ښځو چه حمیدې ته به یې د «سخی مورې» په نامه خطاب کاوه دومره د سخی دمور نوم دسهار نه تر ماښامه اخیستلو او دومره په کلا کښې په «سخی مور» غبز ؤ چه خواره به زیاتی په خپل ژوند تنگه شوه او د هر چا بیل غوښتنه او د هرې ښځی بیل کار ویل به ورته ډیر گران ښکاریده او برسیره د کور پر کارونو به یې دخان د څلور و ښځو جدا جدا امرونه هم په لویه سینه اجرا کول او په دې دودیې دژوندانه سختې شپې ورځې تېرولې چه څاښت به شونو د سهار ډوډۍ به لاپوره تمامه نه وه چه دغرمې دپاره به یې دخپل کار

تیار ی نیو له د وه درې منه او ړه به یې په یواځې ځان واغېزل او له دغې کاره به لا خلاصه نه وه چه منگیو به ورته دتش وا لی نه آذانونه کول دخان د کاله څلویښت پنځوس منگی به یې له لو یې و ېالې نه راډك کړل او څنگه خو به چه له دې کار ه خلاصه شوه نو بیا به پو ره غرمه او تنورو اچولو وخت ؤ په ستوما نه ځان به یې د خان دکاله لو ی تنور و اچاوه او په ډوډۍ پخو لو به یې پیل وکړ ترما سپښینه به یې ډوډۍ پخه کړه او بیا به په داسې حال کښې چه دما سپښین لمونځ به قضا کید وو دخان له کاله به یې خپله دمز دورۍ ډوډۍ واخېسته ا و په ستو ما نه ځان به یې تر خپلو وړو ماشوما نو و رسوله. څنگه به چه یې ډوډۍ خپلو وړو ته کیښوده نو بیا به یې بیرته دخان دکاله دبیگا پخلی ته سودا وه او دغرمې د ډ و ډۍ په څېر به تر ماسخوتنه پوری دشپې ډوډۍ پخولو ښه ستومانه کړه په لو مړ یو و ر ځو کښې خو و ر ته دانا آشنا کا رونه ډ یر سخت ښکاریدل مگر اړ تیا وه نوره یې چاره نه وه په ناکام به یې دغه کارونه او دغه سختې پخپلی سینه هوارولې او په د ې دودیې دبقا دمسالې دپاره دژوندانه سره یوه منا زعه شروع کړې وه.

له بلې خوا دانار اوسخی هم همدغه حا ل و او په سرو غرمو کښې به یې پر دۍ ځمکه کښې دا تمې دهقانی کوله او شپږ ومیاشتو له زیار نه به و روسته پنځه دانې غله چه د د و ی دکور هیڅ ترې نه جوړ یدل ور تللې - سخی چه دپلار په هستۍ کښې په نا زا و نعمت لوی شو ی ؤ نو په لو مړ یو و ر ځو کښې و رته دبز گرۍ سخت کارونه ډیر گران ښکاریدل نا ز کو شو نډ و به یې پتر کی نیو لی و و او وچې کلکې به وې. خو ده ته هم هما غه نا چارۍ و رپه غاړ ه و ې کو مې چه یې د مور او پلار و ې اود کورنۍ دغه درې تنه د ځان او پنځو ماشومانود آرام د پاره نا آرامه وو — خو په ژوندانه کښې د ما حول سره آشنائی دانسان فطر ی خاصه ده ورو — ورو سخی هم له سختو کاروسره آشناشو او بیاوروسته ورته دبز گرۍ کارونه او پردۍ مزدورې ډیره گرانه نه ښکاریده.

— ۲ —

په یوه توره کو ټه کښې چه د ستنو او تیرانو توروا لی یې چه د ډ یرو مودو د لوگی په اثر تورشوی وود تورر نگ، رنجو او یاقیرونه کم نه ؤ د یوالو نه یې د مورونه جگ شوی او ځای — ځای سخت چاود ید لی هم ووا و په هرد رز کښې څوخزنده پراته او د شپې له خوا به چیمچارانو دد ی د بیوزلۍ نغمې و یلې یو توروړ کوټی چراغ بلیده او لبز ې رڼائی د کوټې تورې ستنی تورې ځلولې یومور او پلار

د یوه ځلمی زوی سره د نغری په یوه غاړه په یوه زاړه لمڅی اوپنځه ماشومان چه تر ټولو پکښې یوه جلۍ مشره اودعمر له مخې زیاته بریښی ناست او په نغری کښې نری نری اور بلیږی چه دلمبو اوتاونه یې دلوګی پیمانه زیاته اوټوله کوټه ئی نیولی ده. دکاله مشر یو سوړ اسویلې کاږی اودتیر ژوندانه خاطرات یې راپه زړه کیږی اووائی:

«دخدای له کارو جارشم څه دنیا ده لکه خوب چه وینم د ادنیا راته د اسې ښکاری.

څه ژوندون مو درلود او څه شو خو ګناه زمونږ خپله وه که ما له سرمایه دارانونه پیسې په ګټه نه وای اخستې او په بیځایه لارو کښې مونږ مصرفونو او خرڅونه نه وای کړی نو ولی به داورځ په مونږ راتله او ولی به.»

په همدې ځای یې حمیده خبره ورپریکوی او وائی:

دسخی پلاره! دازړې فصې پریږده اوس مونږ په پردۍ مزدورۍ کښې لږ څه بلد شوی یو پخوانی ژوند مه را یاد وه.

په دې کښې دانار په شونډ ود خندایو ترخه څپه و ځغلیده سترګې یې راډګې شوې اوسر یې په زنګنو کیښو دو او نور یې سره څه ونه ویل.

—۳—

د زمانې په تیریدو کښې خود ادفطرت قانون دی چه دټولو مخلوقاتو په عمرو رځې او شپې زیاتیږی څوک دعمر دتیریدو په لړ کښې له ماشوم والی ځلمیتوب اوځوانی او څوک له ځوانۍ نه د زوړ والی په لور خپل عمر تیروی.

دمیاشتو او کلو په تیریدو کښې دانار واړه ماشومان هم په خوارۍ او سختۍ کښې را لوی شول څلور واړه زامن یې دومره شول چه دمشر ورور او پلار سره واړه کارونه وکړی او تر دې څلور و مشره او له سخی نه کشره لور یې (لیلی) هم پیغلتوب دورې ته ورسیده دا وخت لیلی د ماشومیت له دورې ووته او دنیا ته یې په بل نظرو کتل په سر کښې یې دځوانۍ پسرلی نوی خیالونه پیدا کړل مینه ور سره ژوندۍ شوه خو له مینې سره حیا، دپلار، ورور اوقوم نوم ساتل ورته دپښتونولۍ لوی دود په مخ کښې ودرید.

دمورد کورد کارو ملګرې شوه خو کله- کله به چه مور یې ورته وویلې چه: نن دخان میلمانه دی کار یې ډیر دی زه یې له توانه نه شم وتلای ته هم راسره لاړه شه چه کارمې سپک شی. لیلې ته به سره د دې چه ډیره حیا ورتله خو بیا به هم دمورد خبرې نه نه شوه تیریدلی په ډیر زور به دزړه دپاسه له خپلې مور سره دخان کاله ته روانه شوه دخان په کاله کښې به دخان ښځو ورته ویل چه: لیلی! اوس دې ډیره لویې پیدا کړی ده

او س سرای ته ډیر ه کمه راځي .لیلی به ور ته
په نیو لی آواز کې وویل چه :مونږ خو ټول
کور ستا سو خدمتگار یو کله مې چه مـور
راځی نوزه د کا له کار کوم ولې نه راځم؟ په
دې و خت کښې یې دخا ن له ځوی (حبیب)
سره په زړه کښې ډیره زیا ته مینه پیدا شوی
وه دحبیب ښکلی قد،ښا یسته ستر گـو، نـوې
ځوانی .او په عین وخت کښې له ښې ځوانی
سره ښو جامو او با لاخره دحبیب د ښکلا با ز
د لیلی زړه په پنجو کی وړی ؤ.له حبیب سره
یې دومره مینه در لوده چه دنیا له تو لو ځیزو نو
و ر ته دحبیب یوه تشه کتنه ا و د یدن ښه
ښکا ریده مگر دامنیه چا ته نوشوه ویلی او
کله به چه دحبیب دمینی خاطره ور ته په زړه
کښې را یادیده نو ځان به ورته کچه غوندې
ښکار یده او په زړه کښې به یې ویل چه:زه
ځو ك او حبیب خان ځوك؟ زه د یو ه غر یب
بز گرا و د یو ې خد متگا ر ې لو ر یم . زه
دهغوی په د ود ی لو یه شوې یم زما پلا ر او
ورور دهغه دپلا ر نو کران د ی او هغه د یـو
لوی خان زوی د ی. ځمکې،جا یداد و نه باغو نه
او نو کر اری .. دې افکا ر و به یې په زړه
دنا امید ی او ابدی نا کامی یوه توره څپه
ر اوسته زړه به یې ډوب شو او دنیا به ور ته
دغم یو ز ندان ښکار ه شوه.دخپل کـو ر او
دخان د کور سختو کار و دومره نه ستو مانه
کولو دځوانی د و ره یې وه د زړه ز و راو
داند امو تو انا ئی یې د ر لو د ه خو دمینې له
افکار و او خیالاتو به تل ستو مانه وه .

لیلی سر ه دد ې چه د یو ه غر یب سړ ې
لو ر ا و په سختو کښې لو یه شو ې ذه مگر
دومره ښکلی بشره خدای ور کړ ې و ه چه
د و لس په نجو نو کښې یې سا ر ی نـه و
د کلی د وړ واو زړ وپه خولو کښې د لیلی
د ښا یست او ښکلا صفت واوهر چا به و یل
چه :خدا ئی و ر کړې ده که نه انا ر څو ك
او دالور څو ك چه ښکلا کښې حو ر ه ا و په
حیا کې فر ښته ده حتی د خا ن ښځو به هم
کله، کله د او یلی چه لیلی ته خدای ډ یره ښه
ځو انی ور کړ ې ده تو رو او ښکلو ستر گو
یې د کلی دنجونو د ښا یست قد ر کم کړ ی
و او هر ې پیغلې دلیلی په ښایست رحه راتله
د انار په تیاره کور او تشه کوته کښې د ښکلا
یوه ډیوه او دحسن یوه خزانه وه چه په انار او حمیدې
خدا ی پا ك پیروز کړې وه . د و ی د وا ړ د
خپلې لور په بې سار ی ښا یست ویا ړ کاو ه او
اولاد خو نو هر مور او پلار ته گران وی خود هرڅه
په منځ کښې د ښه او بد فرق وی لیلی یو خوله
د ې کبله چه په پنځو نا ر ینه ا و لا د و کښې
د انار او حمید ې یوه لو روه ا وله بلې خو ا
د حسن او جمال پرښته وه په مور او پلا ر ډیره
گرانه اودد وا ړو د ستر گو توروه .

— ٤ —

د زرو قدر له زرگر سره وی د خان په کلی کښې خوډ یر وو مگر هر یوه لیلی د یوې ښکلې پیغلې په صفت پیژ نده خو حبیب خان چه په کلی کښې په وړو کی خان مشهو رود یو بینا شعور ژوندی ذوق او د مطالعې خاوند ؤ تل به یې د خپل پلار ځینې هغه بدې جنبې غندلې چه د ولس د بدو دود نو تابع به وې له کتاب او مطالعې سره یې ډیر مینه وه او د نوی عصر ځلمې ؤ هغه ته د بشریت د کلمې په مقابل کښې خوار او بډای برابر واو مینه خو نو د دې افکار و تابع نه ده خود خدای کړه وه د ده زړه هم د لیلی د مینې په دام کښې هماغې بند ؤ لکه لیلې چه د ده مینې د دنیا له خوښیو بې برخې کړې وه او تل یې دا آرزو درلوده چه خپل دا پټ راز چاته ووایې او په ژوندانه کښې خپله آرزو تر سره کړی.

ټول ژوند یې په همدې فکرو کښې تیر یده او تل به د لیلی خیال ور سره ؤ. خو ده ته هم هماغه غمونه ور په غاړه ؤ کوم چه د لیلی ؤ او په دې ښه پوهیده چه پلار او مور به یې د ده په فکر او نظر یه کښې څه خبرې جوړ وی او د نه کید و کلمه به لکه غر غټوی.

د لیلی او حبیب خان په زړو کښې د همدې مینې اور بلیده او یو د بل له حاله خبر هم نه و و شپې او ورځې تیر یدې او د دوی مینه د بې خبرۍ په عالم کښې یو د بل سره زیاتیده خو بالاخره هغه راز چه په زړو کښې ؤ هغه خولو ته راغی او د حبیب خان په واسطه دغه راز رسوا شو او د وړو کی خان د مینې هنگامه له لیلی سره په کلی او کوڅو کښې گرمه شوه. او خلك ترې خبر شول داوخت د لیلی د یوا ځې توب په توره دنیا کښې دامید لبزه لبزه رڼا یې وځلیده او د دې د ژوندانه د پاره یې د خوښۍ د سحر زیری ورکړو او په زړه کښې له ډیرو غمونه وروسته لبزه خوښی پیدا شوه. خو څو ورځې وروسته دغه آوازه د حبیب خان د پلار او مور غوږو ته هم ورسیده.

(٥)

د حبیب خان پلار خپل زوی راوغوښت او د نصیحت په دود یې داور ته وویلی چه: زویه! ته سړی نه یې او که زه در ته سړی نه ښکارم. خلك وایی چه ته غواړې چه دانار لور دې په نامه شی.

حبیب خان په دې وخت کښې له حیا نه سترگې ښکته واچولې او چپوالی یې د خپل راز حقیقت او د رضا تعبیر وښوده. پلار یې خپل زوی په دې خبره کښې چپ ولیده نو دا رنگ خبرې یې ور ته شروع کړې چه:

«زویه! ته خان او د خان زوی یې او نیکو نه دې د دې اولس خانان وو. ته باید په ژوندانه کښې له خپلې سیالې سره ژوند تېر کړې دانار لور که په ښایست کښې لکه لمر ښایسته شی نو ستا ژوند خوور سره شرم دی. سبا به خپل او خپلوان ټول

راپوري خاندی چه‌دخپلې مز دو ر ې لو ر ته
کښیناست نوته‌داسې یو کارو کړه چه‌ز ما هم
نوم‌بدنه‌نشی‌او ته‌هم‌بخپل‌ژوند کښې‌په‌ځو کسو
کښې‌یادشې مټ‌او بازودې‌پیداشی‌او په‌سیالانو
کښې‌سروګرځوې پښتانه وا یې چه خا و رې
اخلې‌نوهم یې له لویې‌غونډی‌نه‌اخله‌نو ته‌خو
ځان‌ته‌یو پوه وایې دخپلوهمزولو په‌ډیرو کارو
پورې خاندې ته خوباید دا سې کارو نه کړې
چه‌سباهمزولی‌لاځه‌چه کلی‌او کورته‌ولدر پورې
وخاندی ته‌په‌یوه کورنۍ کښې‌په‌خپلو سیالانو
کښې‌په‌چا لاس کښیږده که زماداته‌وله هستی
پرې‌ځی نوهم به‌یې ورنه دریغ نه کړم‌خو که
دابیانه منې او په‌خپل‌زړه کار کوې‌خپله‌اور ې
او‌خپله‌منې نو له‌حق‌او‌میراث نه به‌دې محروم
کړ م.واده‌درته نه کوم‌او‌له‌وطن‌نه‌به دې ورک
کړم». دا رنګه یې ډیرې خبرې ور ته و کړې
او‌بیا یې له‌خپل حضور نه‌رخصت کړو . خوچه
کو موخت یې دحبیب له خوانه دلیلی دمینې
دوام ولیدنو په زړه کښې‌یې داوویل‌چه :اوس
نو مجبور یم چه انارله‌خپل کلی‌نه‌وشړم ځکه
حبیب‌زمانوم سپکولو ته‌ایښی ده .

څوورځې‌ورو سته یې ا نار خپلې مخی ته
را وغو ښت‌اوورته‌یې وویلی‌چه:«انارہ! ترڅو
چه‌ته‌د کار مټ‌او بازو لرې تاته‌مزدوری ډ یره
ده او تر څو چه‌زه‌ځمکې‌لرم ماته‌مزدوران‌ډیر
دی-تاسره ددې چه‌زما کار او خدمت‌په ر ا ستۍ

کړی‌دی او‌ځوی‌دې‌سخی هم ښه‌هلك دی خود
دنیا کارونه دی‌دوه ورونه‌هم‌تل په‌یو حال‌نه
پاتې کیږی ماخپلی‌ځمکې‌ته‌دنوی‌فصل دکرلو
لپاره دهقا نان‌نیولی او نور تاپه خدای سپا رم
خوزمونږ دهقا نان کوته‌هم نه‌لری‌ته نو اوس
باید زمونږ له کوټې‌ووځې‌چه‌زمانوی دهقانان
ورته راشی» آنارخوارداخبرې‌تولې‌واوریدې
دخبرې په‌یخ ښه‌پوه شواوله‌ځان‌سره‌یې وویل
چه‌اوس‌خومې‌نو‌په‌دې‌ملك کښې گزاره گرانه
ده‌اوس نو باید له خپلو اولادو سره‌له و طنه
ستر گې پناه کړم‌سبا‌به‌خلك‌څه‌وایې‌چه‌په‌نیما یې
کال کښې‌یې ولې‌له کلی وویست- تر هغه یې
چه‌دا چرت له ځان‌سره‌واهه‌نوچپ‌ؤ بیایې‌خان
ته‌په نیولی آواز ، تورر نګ‌او‌وچوشونه‌وسره
ښه وویلې اودخان له مخې نه روا ن شو.

(٦)

انار دخپل کورته‌وله اثا ثیه په‌یوه خره بار کړه
اوله خپلې ښځې اواولادو سره‌له‌خپل‌وطن نه
روان‌شو.خپلو انو سره‌یې په‌ډك زړه او لند و
ستر گو‌خدای‌پامانۍ و کړ ې .

لیلی خپل زړه دخان‌په کلی کښې پر ینبود
اوخپله دپلار اومورسره رو انه شوه. دخوارو
خلکو‌هماغسې چه‌ښایست‌او‌ښکلا دریدی دګل
مثال‌لری مینه اوزړه‌ور کول‌یې‌هم همدار نګ
لګه دبید یاد ګل‌په‌څپر له نظره‌پټ پاتې کیږی
لیلی‌له‌پلار‌او‌مورسره‌له‌کلی‌لاړه دښکلا‌او‌حسن

هنگامه یې په کلی کښې پاتې شوه مگر له مینې یې څوك خبر نه شول او حتی لا حبیب هم په دې پوه نه شو چه لیلی له ده سره مینه در لوده. د انار د کور د مسافرید ونه وروسته د حبیب خان زړه هم د دغو مسافرو په منځ کښې روان شو - د پلار په شتو او هستۍ د هغه زړه هیڅ نه ؤ تړلی او نه دغه لوی ثروت هغه ته خوښۍ برابر ولی شوې د یوه مهجور په څېر له خلکو تل کناره او یوا ځې گرځیده د حبیب مور چه د حبیب دغه نا قرارۍ ولیده نو خان ته یې وویل چه: د اخو نو څه بده خبره نه وه حبیب خو ځلمی ؤ څه زمونږ پیغله لور نه وه چه د انار ځوی پرې مین شوی وای او مونږ پرې شرمیدلی وای د اخو د پښتو مشهور متل دی چه! «زوی ته اړ گوره او لور ته لوړ» که لیلی مونږ حبیب جان ته په نامه کړې وای د اخو څه بده خبره نه وه او اوس به زمونږ د زوی د ادځوانۍ عمر په دې حال نه تیریده خان ورته وویل چه: ته ښځه یې او عقل دې نیمگړی دی ته په دې خبرو نه پوهیږې حبیب لیونی دی چه په خپلې یوې مزدورې پسې ځان ځور وی.

د انار د کاله له مسافرت نه لا یوه میاشت نه وه وتلې چه حبیب زیاتی د بیلتون غمو ناقراره کړو او د لیلی خالی ځای ورته د زړه داغ ښکاریده نو مجبور شو چه په خپلې لیلی پسې ځان مجنون کړی - د پلار د کور آرام ژوندیې پریښودو او په پټه له کوره په دې اراده ووت چه بیا به هیڅ کور ته نه راځی.

د اولاد مینه خو د هغه مور او پلار چه په شاهی ماڼیو او یا د لوخو کوډلو کښې او سیږی د واړو سره په یوه پیمانه ده. د حبیب له تلو نه وروسته مور یې په حبیب پسې داسې حال ته ورسیده چه طبیب او ډاکتر ئې له علاج نه عاجز شول. پلار ئې هم خپل ځوی پسې ځوریده مگر په خپله یې په ځان کړی وو او هیڅ چاره یې نه درلوده د خان د غلط فکر اثر ؤ چه: یوه ناداره، غریبه مگر ښکلې پیغله د غریبۍ له ژونده خلاصه نه شوه او نصیب پرې دا ونه لور له چه هم یې زړه او هم یې د دنیا نور ژوند په راحت کښې شی خود هغې د مینې د پاره یو ځلمی له ښه او آرام ژوند نه محروم او په نا آرامیو سر شو - د کلی خلکو به بیا وروسته تل داویلی چه:

څوك په رضا له ملکه نه ځسی
یا ډیر غریب شی یا دیار له غمه ځینه

انار له غریبۍ او حبیب خان د خپلې محبوبې گرانې لیلی د پاره خپل گران کور او پلار او مور د تل د پاره پریښودل او په خپله مخه ولاړ.

﴿ پای ﴾

لیکو نکی: ژنرال بی بر کلیم
ژباړو نکی: ع ق بار کزایی

# دعربی حکومتونو تشکیل

— ۲ —

هر کله چه جنگ شروع شو. نو سوریه او فلسطین دالمان او ترک د اردو له خوا و نیول شول په ۱۴ جنوری ۱۹۱۵ کال ترکانو د سویز کانال پر خوا حمله و کړه او ددې جگړو له سببه وو چه ورو ورو او په تدریجی ډول انگلستان العریش قازا او او د شلم (بیت المقدس) ته ورسیدل تر څو چه د سا دو نا د جگړې په نتیجه کښې چه په ۱۹۱۶ کښې وشوه د سوریې لاره یې د هغوی پر مخ خلاصه کړه به دې و خت کښې بین النهرین دیوې سختې جگړې ډگر و او انگلستان په کوت المعاده کښې دیوې سختې ماتې سره مخامخ او تر څو چه یو کال وروسته انگلیسان بغداد ته ننو تل او پس له یو کال یې د مو صل ښار چه د نفتو مرکز و هم و نیوه او د خپلې ماتې تلافی یې و کړه په دغه و خت کښې د خلکو ملی احساسات په لبنان او سوریا کښې و توریدل او د ترکانو د اضطراب او پریشانۍ باعث شو. تر څو چه ترکانو د اعدامولو د لوږی ور کولو لبنان دې ته مجبوره کړ چه ترکانو ازادی ته تسلیم او هم ذدوذعلویون هم چه په خپلو غرونو کی سنگر نیو لی وو هم مغلوب کړی مگر ددوی کوشش کومې نتیجې ته و نه رسیده پخپله عربستان کښې د ننه (سلطانانو) او (آمرانو) وغو ښته چه د ترکانو څخه بیل او د انگلستان ترقیمو میت لاندې ننوزی دوه شخصیتو یو (مسعود آمیر دنجه) او بل حسین د مکې شریفې د نورو لویو قداماتو په فکر کې وو ابن سعود په ۱۸۸۰ کې په الریاض پایتخت د نجه کښې و دیږدی پلار یې عبدالرحمن د میر دنجه او پیښوا د و ها بیانو او د سعود کبیر د زامنو څخه وو د ولس کلن وو چه د خپل قدیمی دښمن په ذریعه چه امیر جبل وو دنجه څخه وویستل شو او د خپلې کورنۍ سره د کویت سلطان ته یې پناه یوړه په ۱۹۰۳ کې چه دوه ویشتو کالو ته و رسید نو په یوه حمله یې د خپل پلار پایتخت لاس ته راوست د جگړی په سر کښې قدرت نفوذ موقتی او ناپایداره وو دده په باره کښې خلکو داسې ویل چه بیهوده ده د امیر دنجه پر ضد حمله و کړه امادی خپله خور اصبور او برده باره وو نو د انگلستان په دې آواز غوښت ئی چه دی پخپل قطار د جنگ په ډگر و د روی خوا هش یې و منی او د برطانیا نفوذ بهره احمر په سواحل کښې تائید کړی. او س له دې د جنگ تر آخره د هغه په بار کی خبره منځ ته را نغله (شریف حسین) د هاشمی د کورنۍ مشر حو ساډارن او بې حوصلی وو په اوله مرحله کښې د (ژون ترک) په مقابل کښې چه هغه ته یې د مکې شریفې نوی منصب و ر کړی وو وفاداره پاته شو څو کاله د مخه

دعشیره دجنگ طغیان فرار ولو کښې شرکت وکی.

د۱۹۱٤ کال په لمړی کښې طغیانی اغتشاش محسوس کړ. نو دخپل زوی د(عبد الله) په ذریعه چه دار دن راتلو نکی آمر وو د لارد گیچنر د برطانیې دعالی کمیسار څخه یې په قاهره که پوښتنه وکړه چه که اعراب قیام وکړی. برطانیا به کومه لاره غوره کړی لارد گیچنر: په ځواب کښې وویل چه انگلستان به هیڅ کله دترکانو اودعربو په نزاع کښې مداخله ونکړی امادې مسئلې ډیر دوام ونکړ. او بیا مذاکره داکتوبر په میاشت کښې له سره شروع شوه، اوداقدام دگیچنر له خوا وشوه، اوترکانو جنگ ته اقدام نه وکړی؛ چه انگلیسانو لازمه وگڼله چه خپل عملیات په هغه صحرائی سیمه کښې چه دسویز کانال اودفلسطین ترمنځ جاری وه پای ته ورسوی دانگلیس دعالی کمشنر (سرهانری ماك هون) په منځ کښې دمکاتبې په ذریعه رابطه شروع شوه حسین په خپل سیاسی اواجتماعی حقوقو کښې ددمشق دعربی ځوانانو په نامه چه (فیصل) دهغه یو بل ځوی هم دهغوی سره یوځای شوی وو مؤخذ وگڼه اوداادعاچه فیصل پخپله لیکلی ؤ نو هغه عبارت وه دټولو عربی ممالکو په رسمیت پژندل لکه د سورئی، د مصر حدود تر عدن اومرسین عراق په انضمام د موصل اوعربستان ټوله جزیره په استثنا د عدن دانگلیسانو له خوا، اوالغاء دتمامو امتیازاتو اوهم انعقاد دیوه تدافعی پیمان لویه برطانیا اود عربو ددولتو ترمنځ اوهم خلافت یې دځان د پاره په دې یادداشت کې اضافه کړ سرهانری په ۱۹۱۵ د عربی ممالکو د خپلواکۍ سره موافقه وکړه اماد هغوی د سرحداتو د تعین په باره کښې هغه یوژراوبې موقع اقدام وگڼه اماحسین اسرار وکړ ترڅو چه (سرهانری ماك ماهون) دیو مکتوب په ذریعه حسین ته اطمینان ورکوی ترهغه اندازه چه برتانیا لازم وگڼی هغه به د حسین په ذریعه په رسمیت و پیژنی اودهغه طرفی به وکړی اودمرسین، اسکندریا اودد مشق غربی سیمه حمص، هاما اوحلب په باره کښې چه ممکن دیو بیل عربی ملیت ادعاو کړی نوددې څخه مستثنی دی. اود بین النهرین مسئله هم په دې ډول دانگلیسانو په گټه پای ته ورسیده اوهم دسوریې د خاورې تمامیت یې دمدیترانې دساحل په شمول په رسمیت وپیژنده او سرهانری ددې ویش له کبله پاته شو، اگرچه د سوریې بحری سیمه د فرانسی دگټو تماس درلود د بیاهم ددوی په منځ کښې موافقه حاصله شوه اوپه دې باره کې باید وویل شی چه سرهانری ډیر احتیاط وکړ چه په صداقت اورښتیا ډول ددې مسئلې په باره کښې دحسین سره وغږیږی ترڅو چه دې مسئلې خپل حقیقی شکل حاصل کړ اوحسین ددې موقع څخه استفاده وکړه اوپه — ۱۹۱٦ نابیره (مکه) او بیائی (حده) ونیوه اولیږ وروسته یې د(طائف) واحه هم لاسته

راوسته اما (مدینه) یعنی د حجاز دوسپنې آخرنې نقطه چه فیصل هلته قیام کړی وو په نیولو بې موفق نشو نو حسین دانیولې سیمه د ځان دپاره کافی وشمیرله او د نومبر په دوهمه د متفقینو له خوا د حجاز د پادشاه په نامه وپیژندل شو او د دغې میاشتې په شپږم ئې خپل ځان د عربو د پادشاه په نامه اعلان کړ نو حسین د هغه د تعهداتو په نیت بې چه د انګلیسانو سره ئې کړی ده د ترکانو او المانیانو په مقابل، دی باید ګډون وکړی د دوی ګډون خورا لږ وو چه ابتدا (عقبی) ته ولیږل شو، چه هلته یو تعداد مصریان، انګلیسی او فرانسوی عسکر د هغوی سره یو ځای شول او په (پترا) کې ئې ځای ونیو، او ۱۹۱۷ کال په اخر کښې د معان ناحیې ته رهی شول، او څو واره (د مدینی) دوسپنې په لاریې حملې وکړې او پس له دې چه خپل تجهیزات بې مکمل کړه نو په ۱۹۱۸ کال د (نوربیګ) په مشرۍ چه د شریف د طائفې څخه وو او د (کلفل نورس) د معاون په حیث بې وظیفه درلوده نو د غیر نظامی جنګ جویانو په ذریعه ئې په ۲۶ د سمبر یې ده دعا ونیوه، په ډول د دښمن د قواو د ماتې د پاره چه په ۱۹ د سمبر چه په سادوناکی د جنرال (المبی) په ذریعه مغلوب شوی و، ګډون وکړ نه حسین او نه فیصل په دې ګډون کښې مستقیما اشتراک درلود لیمان فن، ساندر، په خپلو یاداشتو کی داسی لیکی چه فیصل د جرمنیانو قوماندان ته پیشنهاد کړی و، چه خپله څلورمه سپاه دی د اردن په سیمه کی پلی کړی اما په دی شرط چه د ترک حکومت د یوه عربی حکومت په جوړولو کی موافقه وکړی.

(پای)

# کابل مجله

د مجلې نشراتی کال مخ په خلاصیدو دی، د نوی کال په شروع سره د مجلې کال هم نوی کیږی. په نوی کال کښې به مجله په خپله څانګه کښې پخې او په زړه پورې خپرونې کوی.

اجتماعی، تاریخی، او ادبی موضوعات به په کښې څېړل کیږی او کوښښ به کیږی چه موضوعات یې زیاتره زمونږ له جامعې نه وی، داسې چه زیاتره به ددغې شریفې جامعې دژوند او فکرا و ادب او کولتور نه غږیږی. د پخوانی کولتور په باب کښې به یې څېړنې همروانې وی. په تاریخی دورو کښې به افغانی شخصیت کتل کیږی او ورسره به په هغو دورو کښې دده ذهنیت، خیال، فکر، او عمومی جهان بینی معلومیږی. ډېره زوره به په اوسنی جامعه اود دې په مختلفو جهاتو باندې وی، دفکر، ادب او ژوند عمومی جریانو نه به یې په لوړه او علمی سویه تر کتنې او څېړنې لاندې راځی. ژبه، دوددستور، او کړه وړه به یې روښانه کیږی او هغه مسایل به تر بحث لاندې راځی له کومو سره چه دغه ساهو ولس مخامخ اوورسره لاس په ګریوان دی. په بل عبارت د مجلې مخونه به دخپلې جامعې ائینه وی چه و رانې اوسمې، ښه او بد، کر کټر او شخصیت به یې په کښې روښانه او واضحه لیدل کیدای شی.

یقین دی چه دغسې خپرو نه به دټولو خوښه وی او په هغه چاباندې به زیاته ګرانه وی، چه خپل ولس پرې ګران وی، اوورسره توده مینه لری. کیدای شی چه دغسې مجله په ډېره کمه بیه لاس ته راشی. ځکه چه پښتو ټولنه په مادی ګټې پسې نه ده، دې موسسې لوی نظر معنوی خدمت دی او په دې لیار کښې تل زیار باسی.

دمجلې د کالنی اشتراک بیه (۳۲) افغانی ده،

له کابل نه باندې د هیواد په اړې او نزدې کښې (۳۶) افغانی ده.

دمعارف زده کوونکو ته نیمه بیه یعنې (۱۶) او (۱۸) افغانی ده.

داشتراک پیسې به خپله په پښتو ټولنه کښې هم اخستیل کیدای شی؛

که څوک یې د افغانستان بانک کښې د پښتو ټولنې په ۷۱۸۷- لمبر حساب تحویل کړی او رسید یې دلته راواستوی، هم درسته ده.

پښتو ټولنه دهمدغه بانک په اطرافی نماینده ګیو کښې هم همدغه لمبر حساب لری. کیدای شی چه اطرافی مشترکین هم په همدغه ډول په اسانه دمجلې مشترک شی.

2 - AUG - 2
Copy ____ 1961

# KABUL

## Monthly Journal of the

## Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy, Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Hasan Kakar

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه